

# بمونه او
# غمونه

شیرنمل محمد عارف غروال

# بمونه
# او
# غمونه

PROPERTY OF
ACKU
670

څېړنمل محمد عارف غروال

کال ۱۳۶۷ هـ.ش

بسم الله الرحمن الرحيم

## دکتاب مشخصات:

دکتاب نوم: بمرونه او غمونه

مؤلف: څېړنمل محمد عارف غروال

خطاط: سید قاسم چکنوری

خپرونکی: د افغانستان ملي اسلامي محاذ

د پښتي طرحه: تورن قربان شاه

د چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

د چاپ کال: ۱۳۶۷

# اهداء

دافغانستان د مسلمان ملت قهرمانو غازیانو او مجاهدینو ته ، دافغانستان د قهرمان ملت دلکونو شهیدانو پاکو روحونو ته اود اسلامي افغانستان لکونو یتیمانو، کونډو بورو او ورارو ته یې د غمجن زړه د تاثراتو دیوې ډالۍ په توګه وړاندې کوم .

په جینوا کې مې تقدیر څوک بدلولای نه شي
د بل په خوښه فیصلې هیڅوک منلای نه شي

موږ لا پخوا د سر بښندنې فیصله کړې ده
وېښ ملتونه هیڅ قوت له منځه وړلای نه شي

بسم الله الرحمن الرحیم

# شعري منتر د اخونانو د زخمي زړه

مي

د ګران هېواد دین دوسته او وطن دوست شاعر محمد عارف غروال د معنوي اشعارو مجموعه چې نوموړي له ۶۲ لمريز کال نه را پدې خوا زموږ د مسلمان او غیرتمن ملت د مقدس جهاد په اوږدو کې ویلي او لیکلي دي زما مخې ته پرته ده .

څرنګه چې لیکوال د شعر او لیکوالۍ اوږده سابقه لري او دی داسې نامتو او پېژندل شوی شاعر په شعرونو څه لیکل زما په شان دیو غیرفني او عادي سړي ، چې د شعر او فن په برخه هنر نه لري، تېر شوی، له وسه کله پوره ده . دا کار د هنرکارانو دی او د لیک داستادانو. چې د کتاب د چاپ کېدو وروسته سنجایي لیکنې پرې وکړي ، تقریظونه او کره کتنې پرې ولیکي .

زه به دیو ژورنالست او صحافي په حیث د خپلې وظیفې او

مسلک په اړه د خپل درك او تحلیل په رڼاکې یوه دېره لنډه لیکنه پرېږ وکړم په دې ډول چې :

شاعر دیو ژور درد او سوز ځښتن دی . دغه درد هم د هغې ژورې مینې په نتیجه کې چې د خپل وطن او خلکو سره يې لري ورته پیدا شوی دی . په تېره بیا هغه وخت چې لس کاله دمخه د روس کمونستي پرځګو زمونږ د مسلمان ولس په سیاسي واك ګېډه واچوله او بیا د روسانو د لوټ او بربنډه تېري په نتیجه کې مهاجرت ته مجبور شو ، د دغه درد او سوز لمبې نورې هم ژبغراندي شوې . دغه درد او دغه سوزه غربت ځپلی او جلاوطن شاعر دې ته مجبور کړ چې خپله تموله هستي د خپل ګرانه ، خوږه او جنت نشان وطن لپاره وقف کړي . شاعر هم دغه مطلب د خپلو احساساتو په ځپو کې اظهار وي په دې ډول چې :

زه د ګران وطن په پاکه مینه خپل ژوندون کړم
ځکه مي د ګران افغانستان لمنه ونیوه

هسې خو هم د غروال شاعري په عمومي توګه د وطندوستئ او ولس دوستئ په مینه مسته شاعري وه چې زمونږ د ګران

هېواد د شعر او هنر ستندریزه فضا یې بشکلې او خوندوره کړې وه . خو د مهاجرت په وخت کې يې لکه څنګه چې د غه مینه څه چنده زیاته شوه ، ورسره جوخت يې غمونه او دردونه هم څو چنده زیات شول . هم دا سبب دی چې د شاعر د غه شعرونه د هغو لویو غمونو او ژورو دردونو ښکارندوی دي چې د شاعر زړه د - هغوی انګار داغلی او په لمبو لړ ځپلی دی . د داسې دردونو - احساس هیوازې هغه څوك کولی شي چې د غروال په شان په شته وطن کې بېوطنه شوی وي . دا شعرونه په حقیقت کې د شاعر د زړه تناکې دي . د هغه زړه تناکې چې د غربت او جلاوطنۍ په سکروټو داغلی او تناکې شوی وي . او د هغه ژوبل او مجروح زړه خوناب دی چې د کمونستي استبداد د ستم په غشو لګیدلی دی . دی خپل د غه سوزناك درد ، د غه د پردیسۍ او محرومیت درد په خپل شعر کې داسې څرګندوي :

مسافر پروت یم په بل وطن کې
ګلونه خوند کړي په خپل چمن کې
ژوندمې په یادو د خپل وطن دې
وا به م وطن به په څنکندن کې

یا دا چې :

باغ - بوستان ښار خو بلبلانو ځنې کنډو کړه

زما د پلار ښکر يې په بڼ زاغ او زغن پاتې شو

غروال خپل شعر او ادب د خپلو خلکو او خپلې ټولنې - ټولنيز ژوند ته وقف کړی او په دې نظر دی چې ادب د ژوند تصوير دی. نو ځکه د نوموړي د شعرونو دغه مجموعه هم زموږ د مسلمان او ننګيالي اولس د سياسي او اجتماعي ژوندانه د مغ بېلو بېلو اړخونو انځورګره ده، چې د لسو کالو راپديخوا د روس د کمونستي تيري او استبداد په مقابل کې زموږ د مجاهد او جنګيالي ولس د بې دريغه مقاومت او قربانيو ځخه اغيزمن دی.

په يوه بې دفاع او کوچنې او په اقتصادي لحاظ وروسته پاتې خو له ايمان او عقيدې ځخه برخمن ولس، د نړۍ له لوی مادي او پوځي ځواک له خوا د تحميل شوې خونړۍ جنګ په نتيجه کې هره ورځ وينې بهيږي، کلي او کورونه نړېږي، ښارونه ورانېږي، باغونه سوځېږي او بالاخره وطن ويجاړېږي. د دغو وينو، د دغو ږګونو او د دغې ويجاړتيا ننداره هر څوک کوي خو د شاعر ديد بېل دی او احساس يې بېل. او ځکه نو د غروال په دې شعرونو کې ولولئ:

له سروستن گومې داوښکو رود روان دی
سور په وینو مې ننګرهار افغانستان دی
قرباني به ماد قام نه منظوريږي ؟
که لا پاتې زما نه وخت دامتحان دی

يا دا بل شعر :

چې بې سواله بې ځوابه و بيچاره يږي
دا بې هيلې بې اسرې مسکن دچا دی ؟
چې هرکاني د شهيد په وينو رنګ دی
دغاتولو په شان سور مدفن دچا دی ؟

په دې خو به ټول سره متفق يو چې د افغان جنګيالی او بريال ولس دلس کلن جهاد په اوږدو کې د پښتو ژبې شعر او ادب يو لويه غنا خپله کړې ده. ځانګړې لوړې يې پيدا کړې دی او د روسي سير ځمنو په وړاندې يې د مومنو او وطندوستو پرګنو په راپارولو او پاڅولو کې ارزښتناکه ونده درلودلې ده. که څه هم حماسي ادبيات له هغو لومړيو پيرو څخه په پښتو ژبه کې رواج درلود او د پيړيو په پوړيو کې يې د زماني له غوښتلو سره سم

خپل رسالت ترسره کړی دی ځکه دروانو جهادي ادبیاتو روح

ډېرغني او غښتلی، هدف یې سپین او سپېڅلی او دمبارزې څرګه

یې ډېره تیره ده .

دغزوال په دې مجموعه کې حمزیات شعرونه حماسي شعرونه دي

چې شاعر دمعنوي زیاته برخه په هېواد کې دننه دجهاد په مقدس

سنګرونو او جهادي مرکزونو کې لیکلې ده او هم دوسله وال

حاذق شا په دارالهجرت ( صوبه سرحد پاکستان ) کې . چې یو

ډېر نمونه یې دلته لوستونکو ته وړاندې کوو :

نارې سورې دي غزو د پکتیا کې

دبریې غږ دی په هره خواکې

دښمن د تېښتې لوری ورک کړی

ځوانان ترې تاو دي په پکتیکا کې

شاعر زموږ د دین او وطن غلیم - زموږ دخلکو او ملي غلیم

له نېږدې پېژني . نه یوازې ظاهري بلکې دمغز باطن هم پېژني . د

مغز د پرلختیا غوښتنې او جهان نیونې هڅې یې د سر په سترګو

لیدلي او درک کړي دي . دمغز یې رحمه او سفاکه څېره لوري

بيخي ورته لمبه او برېښنا شوې وه . هغه غليم چې په کومه شان د نړۍ ولسونو- هېوادونو ته ورننوتی و او بيا په لوټ او تالان پيل کړی دغه غل اوس زموږ د هېواد د مبارز ولس په منځ کې راګير دی او د تېښتې لارې ترې ورکې شوې دي . شاعر د بشريت د دغه مکار دښمن په باره کې خپل شاعرانه اظهار داسې کوي :

د بريا په لور روان يو په منځ سره
راګير کړی مو دی نن بيا نړيوال غل دی
غوړې سور ملکونه هر يو کې جلبل کړي
دغه اور چې نن زما په خونه بل دی

زمونږ په ګران او خوږ هېواد باندې د شمال خونړيو او تبا کوونکو طوفانونو د سرو پولادو داسې بلله وهلې چې د دې جنت نښان وطن ودان کلي يې په کنډوالو بدل کړل . شنه او سمسور باغونه يې وسوځول او په سلګونو زره افغانان يې د خپلو شهيدانو په غم غمجن او داغدار کړل . دغو سوځونو، ځنګونو او وژنو او ورنظيره - ستمونو د افغان ولس سوله دوست او سالم ذهنيت ته سخت صدمه ورسوله - هغه ذهنيت چې د ننګه بشري تعالي له پاره لازم او ضروري ښکاري . داهر د کمونستي الحاد د تسلط برکت وچې د مينې او محبت په

ځای یې د خلکو په زړونو کې د کینې، عداوت او غچ اخیستنې تخمونه وکرل. غروال هم د دین ولسي او وطن دوست شاعر په حیث د خپل مسلمان او بېدفاع ولس په بدبختیو او ناخوالو سخت خوږیدلی او کړېدلی دی. او د دغو دین دښمنو او ولس دښمنو په وړاندې یې د غچ اخیستنې ژور احساسات راپارېدلي دي چې انعکاس یې په شعر کې هم لیدل کېږي:

سبا مې نیت دی چې د دوی کورونو وسوځوم
خیر دی کړنن زما کورونه باندې اور پوری شو

زه د افغانستان د ملي اسلامي محاذ د نشراتو د مسئول په حیث د خپل دین، وطن او ولس په هکله د محمد عارف غروال شاعرانه احساسات ستایم او د شعر فن ته یې د قدر په سترګه ګورم. ځکه چې ما په هغه کې د شاعر د ژورو دردونو او انقلابي ولولو انعکاس موندلی او له دې کبله مې ورته د تېې زړه خوښاب ویلی دی.

د دې ادارې له پاره دویاړ ځای دی چې د یو داسې ادبي اثر په چاپ او خپرولو یې لاس پورې کړی دی او لوی خدای (ج)، دې موږ ته توفیق راکړي چې د قلمي جهاد په دې برخه کې دې ته ورته نور ګامونه هم پورته کړو.

ومن الله التوفیق

توریالی ځاځی

د نشراتو لوی مدیر

ما د سپېڅلي او آزاد افغانستان په هيله

ما د انسان د انسانيت د ستر آرمان په هيله

سترګې مې چې پټې کړې پلکو مې چې ټينګې کړې

په ټول وطن کې حاکميت د پاک قرآن په هيله

# لومړنۍ خبرې

ژوند دلوړو او ژورو، د ههلو او د ستونزو او مشکلاتو په مقابل کې د مقاومت او مقابلې نوم دی، انسان چې په کوم محیط او کومه ټولنه کې ژوند کوي له ښه او بد څخه متاثر کیږي دخپلې ټولنې د وګړو په خوښیو خوشالیږي او په خپګان یې ضرور خپه کیږي، په یوه ټولنه کې هر ډول وګړي ژوند کوي خینې داسې وي چې د ټولنې د استوګنو د ډېرلږ تاثر او خپګان په مقابل کې هم خپل احساسات نه شي کنترولولای او د خپلې ټولنې د هر وګړي غم او خپګان شخصاً د ځان غم او خپګان ګڼي.

شاعر او لیکوال دخپلې ټولنې او چاپیریال د پیښو او حوادثو د انځوروګر په توګه د داسې حساس زړه او نازک احساس درلودونکی دی چې خپل احساسات تر کنټرول لاندې نه شي راوستلای، هغه خپل انځوروي چې د ده د ژوند د محیط په چاپیریال کې پیښیږي.

د افغانستان د لس کلن جهاد په اوږدو کې زموږ د مسلمان او مجاهد ملت په ګوټ ګوټ کې د وسله وال مقدس جهاد تر څنګ

فرهنګي سنګر هم تود وساتل شو او په دې موده کې یو زیات شمیر داسې وینا وال رامنځ ته شول چې رښتیا هم زموږ د راتلونکي تاریخ د ویاړ سبب کیدای شي او زموږ د دغو وینا والو او د قلم د خاوندانو د هلو ځلو برکت و چې زموږ د مقدس جهاد دغه اړخ خوړا پیاوړی او غني شو .

که څه هم زه ځان د ګران هیواد د ټولو شاعرانو او لیکوالو په دله کې ډیر کوچنی بولم ، خو څه چې مې لیکلی دي هغه د خپل اسلامي احساس په توګه خپل مجاهد ملت ته وړاندې کوم او په دې ویاړم چې د جهاد په دې موده کې مې دا دوهم جهادي اثر دی چې د اشعارو د مجموعې په توګه یې چاپ ته سپارم چې البته زما لومړی اثر د وینو د فوارو په نوم مخوا چاپ شوی او دغه مجموعه د « بموږ او غموږ » تر سرخط لاندې د دوندو لوستونکو مخې ته پرته ده ، البته که کومه ادبي نیمګړتیا ولري ما به وبخښي . په پای کې د دغې مجموعې د خطاطۍ په چارو کې چې ګران مجاهد ورور سید قاسم چکنوری کومې هلې ځلې کړي دي زما د زیاتې قدر دانۍ وړ دي او په دې توګه دغه مجاهد ورور ته د جهاد په چارو کې د زیات بریالیتوب هیله کوم او د لوی خدای ( ج ) له حضوره څخه زیات

اجر ورته غواړم، دگران افغانستان د بشپړه خپلواکۍ ـ
او په خپلواك افغانستان كي د ټول مسلمان ملت په خوښه د
اسلامي نظام د ټينګيدو په هيله .

والله الموفق

څېړنمل محمد عارف غروال

د وطن باده په زخمي زړه ملهمونه کېږده
د مسافرو په وطن کې قدمونه کېږده
راوړه وطن نه د دردمنو پيغامونه راوړه
د بې دردانو په سينو باندې زخمونه کېږده

# خدايه!

خدايه ستا په نوم پيل كړي مې جهاد دی
ستړي يم څخه فتنې دي ملو فساد دی

زه كه مړ شم خو دا ژوندمې ابدي دی
په دې لاركې سرباز ل زما مراد دی

په دې لاركي ته مدد راسره وكړه
تا ته ژاړمه او تا ته مې فرياد دی

غلامي د كفر كله قبلوی شم
پيدا كړي تا انسان خدايه آزاد دی

سر دې ولاړ شي د آزاد ژوندون له پاره
آزادي د انساني ژوندون بنياد دی

ستا رښتيني بندګان نن نا قرار دي
پرې راغلي چې د سره كمونست صياد دی

حق پر كفر غلبه مومي غوره والله!
پوره شوی ستاد هيلو اوس معياد دی

۱۳۶۷/۲/۱۴ بيماري كالوني

# مبارک مولود صلی الله علیه وسلم

داستا په مینه به خپل سر کړم قربان رسوله !
ستا له نامه نه صدقه شه ټول جهان رسوله !

---

زما د زړه مینه یوه ده بدلیدلی نه شي
مینه مې اور نه هم تود ده شړیدلی نه شي
دا هغه مینه ده چې لوړی بدلولی نه شي
دا هغه مینه ده چې بله ځایولی نه شي

ما په دې مینه ازمایلی دی خپل ځان رسوله !
ستا له نامه نه صدقه شه ټول جهان رسوله !

ستا مینه څه ده د لوی خدای د بندګۍ مینه ده
دا مینه، مینه د انسان د آزادۍ مینه ده
دا مینه خپلو کې د مینې او ورورۍ مینه ده
د حق په لارکې د خپل سر د قربانۍ مینه ده

دا ستا په مینه شول پیدا څمکه آسمان رسوله !
ستا له نامه نه صدقه شه ټول جهان رسوله !

تا په تورتم کې د ژوندون ديوه روښانه کړله
تا کږلیچونو کې ديون لاره آسانه کړله
تا د جبارو، مستکبرو ماڼۍ ورانه کړله
تا په شغلو د وحدانیت نړۍ روښانه کړله
د ژوند بهیر دې کړ په سمه لاره روان رسوله!
ستا له نامه نه صدقه شه ټول جهان رسوله!

ستا مبارک مولود په ژوندکې ستر بدلون راوستو
حق او روړوته يې وحدت او پیوستون راوستو
له شقاوت او سرکشۍ نه يې بيلتون راوستو
د حق په مینه يې له حق سره ژوندون راوستو
تياره کوتو نه شول دحق په لمر روښان رسوله!
ستا له نامه صدقه شه ټول جهان رسوله!

د خدای بنده د بندګانو بندګي پريښوده
آزاد انسان د انسانانو غلامي پريښوده
انسان د حق په لور ديې بل تباهي پريښوده
دنيا تورتمرا تاريکو ظلماني پريښوده
په انسانانو ختم وشو دیندان رسوله!
ستا له نامه نه صدقه شه ټول جهان رسوله!

خو :

نن يو ځل بيا انسان انسان باندي ظلمونه کوي

وحشي انسان له حق منکر دی وحشتونه کوي

امن، سکون له منځه تللی دی جنګونه کوي

دکمونیزم پیروان، جنایتونه کـــــــوي

مقابلي ته دي ولاړ ستا پيروان رسوله !

ستا له نامه نه صدقه شه ټول جهان رسوله !

روسي وحشيانو د نړۍ د بنيکيل تکل کړی دی

دي ملحدانو د نړۍ په مخ اور بل کړی دی

دغو خرسانو د ژوندون پر ضد عمل کړی دی

ټول لوېشت لو پيښتنو کې دظلم جور غوبل کړيدی

هدف يې دادی چې نابود کړي انسانان رسوله !

ستا له نامه نه صدقه شه ټول جهان رسوله !

د دې وحشت مقابلې ته افغانان ولاړ دي

که وسله نلري، خو ټينګ په ځيل ايمان ولاړ دي

د خدای په مينه د جنت په ستراړمان ولاړ دي

د سر او مال د قربانۍ په سپين ميدان ولاړ دي

هر مجاهد يې دی د بدر پهلوان رسوله !

ستا له نامه نه صدقه شه ټول جهان رسوله !

یقین مو دادی یا به مرو یا کامیابیږو موږ زه
په ټینګک ایمان به خپل هدف ته رسیږو موږ به
ستا د ارشاد له مخې به [illegible] شو موږ زه
په مخ روان یو کله بیرته راستنیږو موږ زه
غزوال د ګوند د آزادۍ دی په ارمان رسوله[۴] !
ستا له نامه نه صدقه شه ټول جهان رسوله[۴] !
۱ ـ ۶ / ۸ / ۱۳۶۶ کابل

حق ته تسلیم شه د حق په خوا شه
سرکشي پریږده د ځان دوا شه
سرکښي انسانه ځان دې تباه کړي
د ځان په غم کې لږ په ژړا شه
افغان کا ۲۲ / ۱۰ / ۶۲

# د بشریت د لارښود په وړاندې

د خپل لاک ژوندون نسیمه راچلیږه
د اسلام د آسمان لمره راخلیږه راخلیږه

په امت دې توره شپه د پرې وربنې سر او رونه
انسانیت کډه بار کړې مرګ او شروبله ده ویرونه
نن هغوی په ویر پراته دي چې په ټولې قربانیږي
خپل وطن د تربینه پاتې پرې شول د ګ پردي ملکونه

خدای نه د اتمنا وکړه ( په امت مې ورحمیږه )
د اسلام د آسمان لمره راخلیږه راخلیږه

ستا د دین د بلې شمعې پتنګان نن لولپه شول
ستا د پاکې چستې لارې پیروان نن لولپه شول
په نامه دې چې نازیږي چې په دین دې قربانیږي
خدای پرسته حق پالونکي افغانان نن لولپه شول

نو باران د رحم وفضله راوریږه راوریږه
د اسلام د آسمان لمره راخلیږه راخلیږه

مونږ د خدای د دین له پاره خپل سرونه نذرانه کړل
دښمنانو مو کورونه په بمونو ویرانه کړل
په خوابه وطن مو جوړه د غمونو کربلا ده
هست او بود مو ستا په لار کې لیونیې شکرانه کړل

دنیا تو له تیاره شوې د حق نوره وځلیږه
د اسلام د آسمان لمره راځلیږه راځلیږه

چا وطن نه کډه وکړه څوک مو په جلو کې جنګیږي
د چا خونې کنډواله شوې څوک په سړو اور کې اوسیږي
څوک جیلونو کې وراسته شول ترینه ډکې جیلخانې دي
څوک ژوندي په خاورو خښ شول څو وحشت یې تیریږي

ستا د سر قرباني غواړي، نو غروالې روانیږه
د اسلام د آسمان لمره راځلیږه راځلیږه

۱۴ / ۹ / ۱۳٦٤ کبابیان

# دحق رڼا

تورتم د جهل په دنیا حکمراني کوله
ظلم، ستم و د انصاف عدالت ځای نیولی
باطل د حق پر ځای په خلکو واکمني کوله
د پریو خدایانو د حق او د وحدت ځای نیولی

د حق رڼا ته چا په زړونو کې ځای نه ورکاوه
انوار د ترحم کوم عابد د پاسه نه اوریدل
څراغ د وحدت ته چا کورونو کې ځای نه ورکاوه
د چا سر و نه دي د خدای ج حضور ته نه ټیټیدل

د خدای ج بنده د بندګانو بندګي کوله
ظلمتونو، وحشتونو او فتنو دوره وه
د خدای ج جهان کې ځینو خلکو غلامي کوله
د جنګ جګړې او دښمنۍ، ترګنو دوره وه

د شپې له کېدې په توره تم کې لمر راوختلو
عرب، عجم یې کړل رڼا بتکدې ورانې شولې
د حق په غیبنکې نوراني بشر راوختلو
د عیش او نوش او خرافات میخانې ورانې شولې

دغه رڼا دحق رڼا وه دمکې په غېږ کې
تولې دنیا ته یې دنور پلوشې رسېدې
او پتنګان ترې کړې طواف دمدینې په غېږ کې
چې بحر و بر ته یې دحق زمزمې رسېدې

دخدای مخلوق ته دنجات او خلاصون زیری شو
خیرالبشر په مرحلو کې سره مسلي
غروالرین محمد په ژوند کې دبدلون زیری شو
دخدای نیازبین تولو نبیانو کې امر مدني

کبابیان ۲۵/۸/۱۳٦٤

خوشوندی یم خو چې پایم په جهان کې
قربانیږ ته به ولاړ یم په میدان کې
د وجود هر یو اندام به صدقه کړم
د سروین نره کې نشته دافغان کې

# د حقیقت اسرار

څوك خبر د حقیقت په پټ اسرار دي ؟
چې نصیب کې فایدې دي که اضرار دي ؟

چې کاږه شول فلک زنیول په غیږکې
څوك چې سر وو د ظلك دسترکو خار دي

چې د جیم په شان به تل په ملا کاږه وو
برصیصا په شان د ببر لایق د نار دي

حقیقت ته رسیدل صداقت غواړي
صادقان بنکلي گلونه د گلزار دي

الهي انوار په مغز باندې اوري
چې کوږ نه دروي روان په سملار دي

څوك په مینه د دنیا کې لیونی شول
څوك هم مست په محبت د گردگار دي

په کهریوان کې دې سر ښکته کړه غروله!
چې دې څه شی رانیولي په بازار دي.

۱۵ / ۱۰ / ۱۳۶۲ پښاور

افغان کالونی

PROPERTY OF ACKU 670

# د دین ارمان

چې د دين لارکې شي قربان له هغه ځانه قربان

چې توره شپه له منځه وړي هغې رڼا نه قربان

چې لا تر اوسه د حسين (رض) په پاکو وينو سور دى

هغه ميدان د معرکې د کربلا نه قربان

چې سر يې ورکړه خو د دين شمع يې بله کړله

د سترګو توره د زړه توتې د مصطفى (ص) نه قربان

چې له هر څاڅکي يې د وينو سيلابونه جوړ شول

نور البصر د فاطمې بي بي زهرې (رض) نه قربان

چې پيلامه يې د خپل سر په ورکولو وکړه

په پاکه لاره کې له داسې ابتداء نه قربان

چې لا تر اوسه پدې لارکې ورکوي سرونه

د افغانانو د سرونو له سودا نه قربان

غزالله ! مونږه ورته وايه شو ندي وګټلو

بشکلي امام پسې له داسې اقتدا نه قربان

۲۰ / ۶ / ۶۶ کابل

# دقرآن لمن

تا چې د دنیا دستر شیطان لمن ونیوه

ما دخپل خیر دخپل رحمان لمن ونیوه

تا چې د وطن دخرخولو پلان وتاړه

ما دحق دلارې دمیدان لمن ونیوه

ته د روس بچي وې د بادار غیږې ته ولویدې

ما په دین مین دخپل نعمان لمن ونیوه

تا چې د دښمن ټانک طیاره وطن ته راوستل

ما په مقابل کې دسنګران لمن ونیوه

دغه نتیجه ستا دوحشت نه ده نو خوښ یې ده ؟

وینو دشهید چې دآسمان لمن ونیوه

ستا د بربریت او د وحشت څرګندې نښې دي

اوښکو د یتیم چې دګریوان لمن ونیوه

ستا دین دښمنې ، وطن پلورنه هرچا ولیده

غږ د مجاهد د ټول جهان لمن ونیوه

زه د خپل وطن په پاکه مینه خپل شهیدان کوم

څکه مې د ګران افغانستان لمن ونیوه

ځان دې ژړنه هیر شي که وطن به هیرومه زه
دې لاشو مې نن د هر افغان لمنه ونیوه
دغه لوی دښمن په اتحاد سره ماتیږي به
ځکه مې له وطن سره ټول ورور او خوران لمنه ونیوه
ټینګه یې کړه لاس کې د اسلام چې چیرې پرې نږدي
نن چې دې عزو الله ! د قرآن لمنه ونیسوه (۱)

۱۸/۱۱/۱۳۶۲

انعام کالوی

په وروږګمۍ کې نغښتي ژوندون دی
ځانګړې ژوند کې پروت ځیګرخون دی
هغه قاموس ته تل برېالي دی
چې ښایست روزګاري په پیوستون دی

۲۲/۱۱/۶۳ د اتحاد دفتر

---

(۱) د « لمنه ونیوه » د شاعري په لړ کې .

# د حق د میدان شهید ته!

د حق میدان کې شوې په حقه لار قربان شهیده!
هیڅ به مې نه شي زما وروره افغان شهیده!

د تانک او توپ مقابله کې په ایمان جنګیده
په قربانۍ بانددې وياړي مسلمان شهیده!

د حق په لار کې که شهید شوې خو پروا نه کوي
په پاکو وینو دې نازیږي تول جهان شهیده!

ستا له هیبته په روسانو زلزله ګډه ده
ځکه لرزیږي او لړزیږي پاس آسمان شهیده!

نارو د الله اکبر دې زلزلې جوړې کړې
د وینو شا څکونه دې جوړ شول توپان شهیده!

د بې قاموس ونکي ملحدان دې له ګونډو لاندې کړل
ځان دې کړو وصل له رحمت د پاک سبحان شهیده!

د غروال غرونو کې د سرو وینو ویالې بهیږي
ګروندې سرې دې او دی سور هر بیابان شهیده

۹ / ۸ / ۱۳۶۲ پېښور

افغان کاموني

# دافغانانو نوروز

د نوروز هوا راوالوته وطن کې
بیا به سره ګلونه نرش شي په چمن کې
دوطن دښتې بیدیا به لاله زار وي
خوماليار به لیدی نه شي په ګلشن کې
چې میلې به د نوروز یکې کیدلې
اوس د اوربمې وریږي دې مسکن کې
د سخي روضه په وینو باندې سره ده
یو هیجان دی پیدا شوی هر بدن کې
د افغان په خونه اوردی لګیدلی
وینه جوشي په هر زره او هر رتن کې
اسلامي انقلاب خپي پرمخ روان دی
دخپل خدای حضورته ځو په سرکفن کې
الهي انوار پرهغو باندې اوریږي
چې دحق ناري وهي په ځنکدن کې
دا خپل سر به دخپل دین په مینه وکړم
شم قربان به دوطن پاکه لمن کې

خدای (ج) د هغه چا ملګری دی غروالـه !

چې مسیر تري غلط نه شي په رښتن کې

۱/۱/۱۳۶۲

افغان کالوني

ښاغلي ښاغلي وینې مې د دین په مینه تویه شو
مړاړه مورچاني د تسبیح په لاره روان یمه
سر د پښتون سر خو قربانه ته پیدا شوی دی
سر نه چې تیریږي نه هغه مرد میدان یمه
ما د قام په مینه چې زانګو کې ځمرنده کړې وو.
هو دی کوپړ ځانګموږي هو د من زوی د افغان یمه

# د بمونو باران

په وطن مې نن راغلې بوحشي شانته دوران دی
کور مې پروت دی لوټې لوټې د بمونو پرې باران دی

زه وتلی یم میدان ته قربانۍ مې وظیفه ده
په پښتون زړه کې ځای شوې خدای او میهن پښتنه ده
دایمان په زور جنګیږم له خپل دین نه قربانیږم
بس د خدای (ج) په مینه مست یم عقیده زما وسله ده
ځکه نن مې قربانۍ ته حیران پاتې درست جهان دی
کور مې پروت د لوټې لوټې د بمونو پرې باران دی

خیر که وران مې کلي کور شي، خو اسلام دې راشروي
چې د خدای حضور ته ځمه دا انعام دې راسره وي
زه ترهغه به جنګیږم څو چې سترګې مې غړېږي
چې تاریخ پرې افتخار کړي دا پیغام دې راشروي
ټینګ مې هود دی ټینګ مې عزم ټینګ په زړه کې مې ایمان دی
کور مې پروت دی لوټې لوټې د بمونو پرې باران دی

نن زما بنګلي ګلشن ته کړاغلي سره خرسان دي

که په سرو ګلو ګډ شوي نن بدمخي بدکار غاڼدي

دابه هضم چيري نه کړي دا ميراث د شازلمو دی

دلته يو مخ پاڅېدلي، پاڅېدلي شنه زمريان دي

قربانه ته راوتلی نن له خېبره تول افغان دی

کوم يې پوت دی لوتي لېسوتې د بمو يې پرې باران دی

دلته هر څې محمود دی، دلته هر ځوان ميرويس خان دی

دلته هر کړ ليچ کړپه ده هر بيو مشر خوشال خان دی

د هر ځوان ملتو کې زور دی، د هر ځوان په سر کې شور دی

هر سنګر يې وينو سور دی په درزا ځمکه آسمان دی

غروال سراس کې ښول مخ په وړاندې ځي روان دی

کوم يې پوت دی لوتي لېسوتې د بمو يې پرې باران دی

۴ / ۴ / ۱۳۶۲ د پکتيا ولايت

د کوچ خسوم دغره لمن . د زندو ورشو

د غروال باند

# دغیرت شمله

زما ملت مجاهد او مسلمان ملته !

توله نړۍ کې ننګیالی او قهرمان ملته !
ستا له غیرت ستا له میړانې نه ځړان شمه زه

سر دې خدائ(ج) تل لوړ مخ پورته تر آسمان ملته !
ځکه لږ زیږي ستا د توري هنګامې پورته دي

زما تش لاسیه، خوغازي مړ میدان ملته !
ستا د غیرت شمله دې خدای مدام اوچته لري

پر تا برمشه هیڅ دښمن په دې جهان ملته !
د شهید سرو وینو کې ستا د بري زیري پروت دی

سره ګوي دا ستا په مینه هر یو ځوان ملته !
دا ستا په دین او په وطن باندې مینې بچیړي

نه په سر ښکته دي نه ویریږي له زندان ملته !
دا ستا په غیږ کې لوییدلي زالوی شوي ځوانان
غروال پریږي ویاړي تل دې وي دغه زیږان ملته !

افغان کالوني ۱۳۶۳/۷/۲۰ .

# نړیوال غل

ن زما ښکلی وطن کې چې هر غل دی
ښځې، لوی او وړوکی یکې د ل دی
د غا یانو غلیلې دی اونار دي
هر یو خوله مې جوړ دښمن لره اجل دی
زما مینه که ورانیږي باک یې نشته
له دښمن څخه هر ورک د تېښتې چل دی
چې ثاني یې د غیرت نشته نړۍ کې
څو مره ښکلی د افغان د ېگړۍ ول دی
د یري په لوړ رواږ یم ورمخ د روم
ر کړي کړي مې ن بیا نړیوال غل دی
غواړي نن ملکونه هم یکې جلبل کړي
دغه اور چې نن زما په خونه بل دی
عاقبت به زما قام بریالی کېږي
چې وا کمن د تول جهان راسره مل دی

همغه تا مر به په قاموسونو کې اوچت وي
چې لمبې ئې د ستیکو تر پله پل شعلې

خدایه سر د غزال ستا لار کې قبول کړه
ورته بس په دغه لار کې واستیل دي

۶ / ۸ / ۱۳۶۳ کوزتاکال

رحمن ابن سینا رښتون

بریژنف له دنیا یووړل ارمانونه
اندروپوف ورپسې بارکارمل کاروانونه
د افغان د ثور پې شرنګه دې نوم شه دي
چې مسوري ئې شول د روسانو څېکرونه

# زما د تره زوی شهید محمد عثمان په یاد

له سرو سترګو مې هومره ښکاره روان دی
سور په وینو مې نن ګران افغانستان دی

قربانۍ زما د قام نه منظوریږي ؟
که لا پاتې راته وخت د امتحان دی

په بهار کې سور خزان را باندې راغی
که په نور جهان بهار پر ما خزان دی

په نړه ګوټ ما سځومان د حق په لار کې
قربانیږي لوند په اوښکو مې ګریوان دی

پوره ته ویړ دی ، ښکته ویر د غم مرغلرې
ځمکه ریږدي په ژړا ورته آسمان دی

د غمیزې د کړو تا په نتیجه کې
راته جوړ له ګران وطن ځنې زندان دی

ځه افغان مجاهد پلار په ویاړ ولاړ دی
تر مړو خاورو ته روان محمد عثمان دی

چې غــروال د شهید سرو وینو ته ګوري

حقیقت کې یې هر څاڅکی یو توپان دی

پېښــاور ۱۳۶۲ / ۱۲ / ٤

افغان کالوني

دا څه وحشت دی څه بربریت دی ؟ ؟ ؟

څه سړیتوب دی څه انسانیت دی ؟ ؟ ؟

زما ځوانان چې په ابدلیم حکمل ؟

د کمونیزم دا عدالت دے

# تول جهان وهي په بډه

انسان چې شي بې لارې انسانان وهي په بډه
انسان ورته لا شي دی تول جهان وهي په بډه

په سترګو باندې پوند شي توراو سپين ورته يو شان وي
کرخپل وي کړي دی وار په يوشان وهي په بډه

تميز د شر او بد کولای نشي بې تميز شي
دا ځکه د ځان بولي او آسمان وهي په بډه

په خوله د عدالت نارې وهي خوی د شيطان کړي
شيطان ورته عاجز شي شيطانان وهي په بډه

قاموس کې يو ځوښتنه مکروب چيرې پيدا کړي
د خپل غرض لپاره عهد ، پيمان وهي په بډه

بس خپله هستي غواړي د قاموس په نسبتی کې
په وخت د ضرورت خپل غلامان وهي په بډه

دا څه رنګه دوستي ده چې په دوست هم رحم نکړي
نشه دلبو نتوب کې خپل دوستان وهي په بډه

ته کې چا مردار کړ او لعین چا، چا نزاري کړ؟

اخر به دا بې دینه پرچمیان وهي په بدوه

ببرک ای د روس مله ! ته لا اوس هم نه پوهیږې

ته رد رد ورته ګورې ستا یاران وهي په بدوه

ستا هم هماغه لار ده چې یاران دې پرې روان شول

ډېر ژر ده چې به تا او ستا خپلوان وهي په بدوه

غروالله! د وحدت رسۍ ته راچوه لاسونه

دښمن د بشریت افغانستان وهي په بدوه (۱)

۲۶/۹/۱۳۶۳ کنداکل

نښتر او لمنځې په وینو سرې دي

لوېې شوې داور لمبې دي

لښتې د وینو پکې بهیږي

که غرونه، سمې او کمرې دي

---

(۱) د «وهي په بدوه» د مشاعرې په لړکې.

# يو کېږې ولې نه ؟

آسمانه ! لا ولاړې ړنګېږې ولې نه ؟
په حال د دې ملت باندې ژړېږې ولې نه ؟

ته وينې چې زما په وطن جوړه کربلا ده
له وينو د شهيد مې لامبېږې ولې نه ؟

دښمن د بشريت مې کور او کلي لولپه کړ
د دې اور د تناره کې ته سوزېږې ولې نه ؟

اې ځمکې د افغان چې شپه او ورځ په تالړزه ده
د دې دومره درز او دړونګې دا ورانېږې ولې نه ؟

زما تنکي ځوانان د اوردېتي کې نيني کوي
جهانه ! زما غم باندې دردېږې ولې نه ؟

بمونه د ناپالم مې په غرونو راورېږي
يونو ! له دې وحشت نه خبرېږې ولې نه ؟

زما مسلم ملت د خداى په مينه باندې مست دى
د ټول جهان مسلم ! بيدارېږې ولې نه ؟

ښاروونه او بېدیاوې د وطن مې کنډواله شوې .

فلکه ! له دې ظلمه ستومانېږې ولې نه ؟

یتیم د ترمو اوښکو په سیلاب باندې لاهو دی

خالي شپېلکۍ کړې ستنېږې ولې نه ؟

نه چا په ګونډو کړې یې لږ ځانته فکر وکړه

د خدای ، رسول د ښځینه د اشهیږې ولې نه ؟

زمانه نګیل ملته ! چې د تورې سیلاو دې نښته

وا څه بلا راپرېوته یو کېږې ولې نه ؟

مقام د ریاست ته خدایه یو رهبر پکار دی

د ځان په سود او زیان باندې پوهېږې ولې نه

غروره ! کچکول راخله مړو مشرتوب ته یې پېوند

په غرور د خپل ولس باندې څه د ښمنېږې ولې نه ؟

۱۸ / ۱۱ / ۱۳۶۳ افغان کالونی

شپې ٤ بجې

د رحمان بابا په مزار

## غمرشپه

منګلې د نوي ښوونځي په مرقد دي
د ګلونو کاسې ډکې له شبنم دي

د وطن په ګلو بیا پسرلي راغی
په اندرسل کې ګل تومبلي بیا صنم دي

بنګلیوان د خیل بابا له مزاره چوپړي
راز ونیاز یې خوب و زړه ټولو ته ملهم دي

ما څولید ده غوړولي خپل بابا ته
هوا دوال مې چې پراته په لوی ماتم دي

زما باغ باندې خزان دی بهار نشته
بلبلان زما د باغ اخته په غم دي

زما ورونو ای زما غمشریکانو!
د دښمنان مې ورکاري لره اړم دي

زما مینه ورانوي باغونه سوځي
خدایږو زړونه د هرچا کرم کرم دي
شاوخواته مي نظر دی وطن ټول ماتم
څوک له ما نه دي بېزار څوک مي همدم دي
زما زړه نن د غمونو خزانه ده
جوړ غمونه مي له غمه مرهم سم دي
نه پوهېږم چي انجام به زما څه وي ؟
تکلیفونه کړاوونه دم په دم دي

د غم شپه به آخر تېره شي غزاله !
د جهان د شعر کوکي په عالم دي

۷ / ۱ / ۱۳۶۴ کبابیان

# خپل تاریخ پلار ته

پلاره ستا له سینې زیږی نه ځاریږم
ته چې پروت یې بستره کې زه کړیږم

دا وطن و تا میراث راته سپارلی
او س ورانیږي په هېڅ حل یې نه پوهېږم

ستا شلخي ټوپک انګریز ته ماتې ورکړه
ستا میړانې او همت ته حیرانیږم

چې تاریخ یې افتخار کړي هغه ته یې
زه به کله ستا مقام ته ورسیږم

زه چې ځان او ستا تاریخ ته نظر وکړم
پخپل خدای باندې قسم خورم چې شرمیږم

هغه کور چې ستا په زیار و آباد شوی
ویجاړ پروت دی ورته ګورم او خوږیږم

کاشکې ستا مټو کې بیا ځواني نه دوای
کمزوری ته چې دې ګورم هسې ټریږم

ستا په زړه کې نفاق او شقاق نه و
زه په اور د تربگنیو کې سوزېږم

ستا دوره وه د وحدت او د یووالي
زه تنظیم او پارټ بازیو کې لوېږم

ستا دښمن دومره وحشي او ظالم نه و
زه د سره کمون وحشت سره جنګېږم

ستا تاریخ به بیا ژوندی کړم که پښتون یم
زه غزوال له سره تېر یم نه دارېږم

۷ / ۸ / ۱۳۶۳ کوزتاکال

دلمجر ابن سینا روغتون

بیا د زړه د پاسه پند غمونه شول
او سکو نه روان مې ځیګر خوږونه شول
او ردي په وطن چې راوریږي بمونه
خاورې د پکتیا کې ځنګلونه شول

۲۲ / ۱۱ / ۱۳۶۳ افغان کالوني

د مزدور رژیم د پښتنو نامه لویې جرګې له امله .

# لویه جرګه

لویه جرګه ده که د غلو جرګه ده ؟
د هېواد پلورو خو سرېو جرګه ده
د غه جرګه ، جرګه بللی نه شي
د خائن پلورونکو د سرو بلو جرګه ده
جرګه د خپل قام سپاوون راولي
دا خو د تورو تورو شپو جرګه ده
دا د غلام د غلامۍ نښه ده
دا کرملین ته د سجدو جرګه ده
دا د وطن د غرخولو تصدیق
د خو ناسدو ارمانو جرګه ده

څوک بې وجدانه سره وغېږېدل
دا انسانانو نه، د سپو جرګه ده

څوک چې انسان وي وطن نه خرڅوي
دا د وحشت د فیصلو جرګه ده

څوک یې مني د غلامانو جرګې ؟
د تېښتو سترګو د کتو جرګه ده

غلام دې څنګل باداران تر سره تېښتوي
دغه د سر د تېښتېدو جرګه ده

دغه ارمان به یې پوره نه شي
وحشت بېداره د ظلمو جرګه ده

که پښتنو چېرې جرګه کوله
غرواله ! هغه د رندو جرګه ده

١٣٦٤/٢/٤

افغان کاوونی

# د دوا په انتظاریم

په تیرو تورو شپو کې درنا په انتظاریم
دا شپه خو مرور اوږده شوه د سبا په انتظاریم
غوټه د امید وتړمې د ندرکې شوله مراوې
د گل د غوړیدو دیوې مسکا په انتظاریم
ژړا ده انگولا ده تول وطن کې چېرماتم دی
غمونه اندیښنې دي د خندا په انتظاریم
د گل غوندې وطن کې د بموبو باران اوري
ددې ظلم د پای او انتها په انتظاریم
هر ځوان مې د وطن په پاک مینه کې مجنون دی
د مینې دې بازار کې د لیلا په انتظاریم
آدم د درځی مینه کې رباب په زنگون ایښی
وفتح پسرو په ځمکې د دېرا بیا په انتظاریم

زما د گران وطن د ښتې بیدانې لولپه شوې
د خدای ج دا مد ورځو د بیا بیا په انتظار یم

دنیا ده زلزلې دې جمهور سره وینو سره ونه
د سولې آرام ژوند ښکلې فضا په انتظار یم

د ځان په غم کې نه یم د وطن په غم غمجن یم
زه دې مهلک مرض ته دوا په انتظار یم

د دین وطن دښمن چې قتل عام دی شروع کړی
چې واخلې ترې بدل د هغه چا په انتظار یم

د خدای ج رهبر رښتنې ده بری زموږ حتمي دی
دا سې کړه دیو مشر، رهنما په انتظار یم

زما غیور ملته! وخت د مینې محبت دی
د یو منځې یووالي د رښتیا په انتظار یم

دا وخت د مشقت دی آرام مه کینه غروال!
دا ستا د قربانۍ د سر سودا په انتظار یم

۱۷ / ٤ / ۱۳٦٤ د پکتیا ولایت - د کوچ خرم خیرو ملن
ژرندو ورشو - د غروال بابا

# غزل به څه وليکم؟

بې د وطن په غم غمجن غزل به څه وليکم
چې په سره اور کې لوغړن غزل به څه وليکم

چې د وطن بچيان په سره اور کې پراته ووينم
را باندې راشي څنګه دن غزل به څه وليکم

زما د پت، عزت ميړنې په داګ پرتې دي
څکه له غمه يم غمجن غزل به څه وليکم

ما د ناموس په سر څپل سر باندې لوبې وکړې
توېنه قربان مې دی خپل تن غزل به څه وليکم

غروال! دا حالت به وي که به انجام ومومي
بس کړه د غم دغه ګڼتن غزل به څه وليکم

٥ / ٧ / ١٣٦٤ کورمه منظرکوټ .

# دوطن په یاد

چې تل مې دام پرې نازیدم هغه وطن پاتې شو
زما د سرو ګلو ډک باغ ښکلی ګلشن پاتې شو

چې په زړه کې یې مثال د ښایست نه و چېرته
د زړو په وینو مې سمسور هغه ګلشن پاتې شو

باغ بوستان شته، خو بلبلانو ځنې کډه وکړه
زما د پلار ښکره په بن کې ناغ زغن پلتې شو

لکه چې روح شي ترې جدا خالي کالبد پاتې شي
داسې وجود مې د وطن خالي بدن پاتې شو

لکه بلبل چې د ګلونو په ارمان چغېږي
داسې په چیغو او ژړو مې مړه اورنن پاتې شو

لکه ظالم ښکاري له ښکاره بال او پر وباسي
داسې شهید مې په تخته د بې کفن پاتې شو

غوراله ! بیا دې خدای د غم قیصې راوخیستلې
کړه افتخار چې مرګ د کتاب او د بهشتن پاتې شو

۱۱/۷/۱۳٦٤ - پښاور - بلغرانان

# چا د حق د لارې شهیدان راسره وژړل؟

چا مې کونډې، بورې یتیمان راسره وژړل؟
چا د حق د لارې شهیدان راسره وژړل ؟

چا مې اوښکې وچې کړې په مانې ترحم وکړ ؟
چا مې درد په زړه خوږې ګرېوان راسره وژړل؟

چا د غم وحشت ته د نفرت په سترګه وکتل؟
چا مې لولپه باغ او بوستان راسره وژړل؟

سره وحشت د روس مې د وطن ودانۍ ورانې کړې
چا مې په اوږه سوي د دښت دامان راسره وژړل؟

غټې غټې کې د میندو په سینو باندې غلبیل چې شول
چا د غم قې خوږې ماشومان راسره وژړل ؟

چا مې د دښمن ظلم تېرې ته ناروا ووې ؟
چا مې د ازار او د ځوانان راسره وژړل ؟

چا مې په اور سوې کنډوالې کې بهولې وکتل
چا د دین دښمنې پتنګان راسره وشړل ؟
چا مې هلې ځلې د حق لاره کې تاشیدې کړلې ؟
چا د غم تښ لاسې افغانان راسره وشړل ؟
چا مې ځوبل ځوبل مجاهد په غیرت کې ونیول ؟
چا ټول نوم د جهلولې تېپان راسره وشړل ؟
دا یوازې زړه مې په سر اور کې چې سوځېدو
نه یې خبر چې حکم انسان راسره وشړل ؟

چېرې دې غروالې ! د مجلس یاران دې چېرې دي ؟
چا دا لاالهانده شاعران راسره وشړل ؟

۱۸ / ۷ / ۱۳٦٤

کبریان

# د شهید داد میر پاچا

که سنګر زما په وینو باندې رنګ شو
خو دښمن ماندې مې ژوند مرګوژ تنګ شو

زه غازي یم، مجاهد یم په سنګر کې
د پښتون سر مې قربان د تمام په ننګ شو

ویاړه ویاړه د افغان غیور ولسه!
چې جهان ته دې ښکاره د تورې شرنګ شو

میرنی خېل سر بایلي د وطن لار کې
« داد میر هم د وطن شمعې ته پتنګ شو

په پکتیا کې د دښمن لښکر ونه مات شول
هم هیچوې چې د دښمن لره کړنګ شو

سرې لښکرې له پکتیا په ماتې ولاړې
د بابا له نرې تورې لېرې زنګ شو

د غروال له غرونو دغه آواز اورم
پاتې مرګ د بسترې او د پالنګ شو

۲۹ / ۷ / ۱۳۶۴ پرمحور ستمي امن پېښور .

# د ناسو قوماندانانو په یاد

ستا د سرو وینو له هر څاڅکي نه قربان شهیده !
ای د خپل دین د پاکې مینې قهرمان شهیده !

تا د خپل دین او د وطن په مینه سرقربان کړ
ستا په نامه بانده به ویاړي هر افغان شهیده !

نارو د الله اکبر دې زلزلې جوړې کړې
څکه لرزیږي لاندې ځمکه پاس آسمان شهیده !

د احمد ګل او فتح الله لاره به نه ورکولسه
چې وو د دین د ډلې شمعې بې ګمان شهیده !

د استا غورځنګ د توري شرنګ دښمن نه لاړو د کړه
وه بانده به تنګ دی کې د الوی پراخ جهان شهیده !

دا د میړه ! ستا له پاکو وینو به سیلاب جوړیږي
یکې غرقیږي به له خیرمې د دښمنان شهیده !

غزوال قلم لاس کې نیولی دی سوچ نه وهې
ګورته به پوهې د غه ستا بنکلی ارمان شهیده !

کتابیان ۱۳٦٤/۷/۹

# سور کفن

دا په سرو وینو گلگون بکفن د چا دی ؟
دا خزان وهلی پروت گلشن د چا دی ؟

دا د چا په کورکې وير دی او ژړا ده ؟
کندوالې باندې بدل وطن د چا دی ؟

د وطن غيرتي پيغلې ولې شاړې سيې ؟
دا په خپلو وينو سور کفن د چا دی ؟

چې غلوښې شنداروالې د ادرومي
دا په کور کې پاتې آزان ديلي د چا دی!

چې د مور د زړه ټوټه خاوروته درومي
دا په مينه او په وطن مين د چا دی ؟

چې يې گران وطن نه جوړ تا تنورکړ
دا وحشي او دا ظالم دښمن د چا دی ؟

چې بې سوال بې ځوابه ویجاړیږي

دا بې هیلې بې اسرې مسکین دچا دی؟

چې هر کانې دشهید په وینو رنګ دی

دغاتولو په شان سوړ مدفن دچا دی؟

چې بې دریغه بهوي دغروال اوښکې

دا له غم او سوز نه ډک ګلشن د چا دی؟

کبابیان ۲۲/۸/۱۳٦٤

زخمي زخمي یم پروت په بستریم

ټوټې ټوټې یم پرهر پرهر یم

د دین له غمه د قام په ویر کې

سوی د دوستانو د نړه په سر یم

# گرانه وطنه!

د غم شپې ورځې دي چې روس په موږ یرغل کړی دی
زموږ په غرونو او رغونو یې اور بل کړی دی
زموږ د ګران وطن هستي یې رانه واخستله
د بشري قانون په ضد یې دا عمل کړی دی
خپه یم ځکه چې وطن نه ویرانه جوړه شوه
د څو ملحدو د استوګنې آشیانه جوړه شوه

---

په ویر کې پروت یمه چې سرې وینې بهیږي زما
لوی او واړه د اور بتو کې سېځي کیږي زما
د دین وطن په مینانو جیلخانې ډکې شوې
تنکي ځوانان نن په سنګر کې قربانیږي زما
ویرجن یم ځکه چې تباه شوم تباه کیږم پسې
د ورکاوي په لور روان یمه ورکیږم پسې

---

غم دې ماتم دی چې په سره اور کې اوسېږمه زه
د حق په لار کې له خپل سر څخه تېرېږمه زه
د خوب آرام په غم کې نه یم ستړی ساه لرمه
شمع یم سوځم، خو محفل لره بلېږمه زه
غنچه یم ځکه پسرلی مې په خزان بدل شو
له ځانه خوږ وطن مې نن په تور زندان بدل شو

---

په دې پرېشان یم چې شادۍ کړوندې شوې زما
یا له ځوانانو څخه ډکې هدیرې شوې زما
د مندو مېږګن ځنګلونه په ایرو بدل شول
د اور لمبې په غرو رغو باندې خورې شوې زما
پرېشان یم ځکه چې له ورور سره به ورور نه شمه
خلاص به په ژوند کې د نفاق له دې پېغور نه شمه

---

په دې خپه نه یم چې چا راسره ونه ژړل -
یا په نظر د ترحم چا راته ونه کتل
د یتیم ترې سترې اوښکې مې چا پاکې نکړې
د مجاهد ملت زخمونه مې چا ونه کتل
خپه په دې یم چې آخر به څه انجام وي زما
تل به یم داسې دربه در که به آرام وي زما

---

خو، گرانه وطنه! دا دغم شیبې دي تیرې به شي

که هرڅو سختې ورځې شې دي آخر هیرې به شي

دغه تور داغ به دې لمنه باندې پرېنږدمه

دا ستا خوږې میرې دښمن لره ګنډیرې به شي

غروالو! تل به د ظالم دغه ظلمونه، نه ا

بري حتمي دی تل به دغه وحشتونه، نه و

---

۱۶/۹/۱۳۶۴ کبابیان

د پکتیا دښتې، د پکتیا غرونه

د پکتیا ږرنې ګڼ ځنګلونه

په اورلمبه شول د دښمنانو

دا خو وحشت دی. داځه ویرونه

۲۲/۱۰/۶۲ افغان کالوټي

# د سپرلو وطن کې

دا به کوم ځوان کاندي قبوله د ما غمزو وطن کې
چې سر غرسان دې ترندکوي نن د زړو وطن کې

سرو بادرنګو چې د « جدي » باغچې لولپه کړې
ګلان به ګل بیا راشنه شي د سپرلي وطن کې

د خدای ج مخلوق یې چه د خدای ج په لوی غضب اخته کړ
دا خه تعلیم و چې یې زده کړلو د سرو وطن کې

زما د ګران وطن هستي یې راته ولوټله
خو هیواد پلورو سودا وکړه د دښمنو وطن کې

د کوندو، بورو، یتیمانو عاقبت به خه وي
خه به وي خوند د ژړا ګانو او سلګو وطن کې

یو غمې ندی چې یې وژاړم هرځای ماتم دی
دردونه یې پر بل زیاتیږي د دردو وطن کې

شهیدې پروت دی نابې کفنه چاته وژاړمه
وینې دي وینې چې بهیږي د زخمو وطن کې

کلي يې وران کړل کړوندې يې راته شاړې کړلې

بمونه اوري هره خوا د ننګيالو وطن کې

د دين دښمن مې بشري قانون تر پښو لاندې کړ

غواړي چې ښکېل کړي زما قام د سيمو وطن کې

اې د دنيا سوله غوښتونکو تاسو اورئ که نه؟

ظلم وحشت دی نن سبا د عظمتو وطن کې

سره سنګرونه د ځوانانو په سرو وينو رنګ دي

دارې داو ښکونه ترکيبې د باتورو وطن کې

د کاميابۍ په لوري يون دی، خولې زما پکار ده

لس څه که زده کاندو سبق د تاريخي وطن کې

په خانځانۍ کې کاميابي څه راته ګرانه ښکاري

ښکر مو مين کړل بيوالی د جرګو وطن کې

زما خوږ من زړه به هلته څه آرام ومومي

چه واقعي مينه پيدا شي د سيمو وطن کې

غرزواله! تېينګ عزم چې وي د څه پروا مکوه

ګل لتو په لاس به درشي دا غرو وطن کې

۱۳۶۴/۹/۳۰ کبابيان

د الحاج ننګيال پړخبرو باندي خبري

# د آشنا خبرې

څومره خوږې لګي آشنا ستا د دردو خبرې
دا ستا خبرې دي رښتيا دارديدو خبرې

ستا په خبرو کې مې پټ غوندي اسرار وموندل
زړونه ته لاره پيدا کړي چې وي دزړو خبرې

ستا د ځوانۍ د ځوانو هيلو پکې ځرک وينمه
دغه خبرې دي د ټينګو عقيدو خبرې

ستا عقيدۀ او ستا ايمان پکې له ورا ښکاري
پکې ځليږي ستا د تاندو ارمانو خبرې

خبرې نه دي د ملت د سباوون زيرې دي
په تورو شپه کې د رڼا او د سپيدو خبرې

ستا دې ارمان نه صدقه شم ترينه وګرځمه
دا د بيدارو اولس، د تړپاڼو خبرې

خوږو خبرو دې پا وطن کې چې شهرت وموند و
پر هېر پرېږدو چې دې دا د ننګيالو خبرې

زړه دې لږ ټينګ کړه چې ټينګار د کاميابۍ نښه ده
راښي دې ښکارې د ساحل د رسېدو خبرې

د زملت د نن پاڅون د نن شاعر نن پيغام
موږ ته راښيي د تاريخ د کارنامو خبرې

ځوانه شاعره ستا خبرې د ژوندون خبرې
د ځورېدلو، کړېدلو، پرګنو خبرې

دا په خپل دين او په وطن د مينانو انځور
دا په سنګر کې د غازيو د غورځنګو خبرې

خو:
زما د زړه آشنا په باب دې خيال بدل غوړېدلی دی
لږ څه د زړه په غوږو واوره د ګيلو خبرې

چې دا وحشت له منځه ولاړ شي، شي آرام وموږ
موږ ته پکار دي د خلاصون او بېرتللو خبرې

هدف معلوم دی هر ګذار بايد رسا پرې وشي
زما خوښېږي د دښمن د پرځېدو خبرې

د کرملین دې دانه دې وانوړو ګنډار

غوړاله ! دغه دي د ټرو پښتنو خبري

---

١٥/١١/١٣٦٤ کابل

څوک چې جنګیږي د دین په مینه

ورکوي سرخیل ورکوي وینه

داسې ځوانان دې مدام ژوندي وي

داسې مشران دې الله لري ینه

٥/١٢/١٣٦٢ افغان کالونی

# دوخت شاعرته!

ماته د سرو بڼو باران کې ګلان مه یاد وه
باغونه لوټ شول نغمه ګوی بلبلان مه یاد وه
اوس د باران په شان په مونږ سرې سکروټې اورې
نه مې برکینږي خدای دپاره باران مه یاد وه
د ګل سره میلې شوې مېږې د وحشت په لمبو
چې کړې ظلمونه ماته داسې انسان مه یاد وه
د سخي جان روضه په سرو وینو کې غرقه ښکاري
د سرو لاله په ګلو مست بیابان مه یاد وه
په ګل غوندۍ کې میلې ښستې وې ترا ده پکې
دې چاپېرچل کې ښایسته ارغوان مه یاد وه
د غم برېښتن ده خوره شوې د کابل په ځمکه
په ویر پراته مې عاشقان ، عارفان مه یاد وه
تنکي ځوانان مې د نیپالم د بم خوراک شول
په کوڅو کې ناست د غم ځان ساتي ځوانان مه یاد وه

ناره د الله اکبر چې ترل جهان لړزوي
دغه ناره چې پکې نه ري جهان مه یادوه

د مجاهد د توپک غبر د سبا [illegible]
مانه رستم د زمانې دغه آن مه یادوه

زه په تالونو د خوار وطن د فکر زانګم
ورخت شاعره! اوس دې ځنې زلفان مه یادوه

د سنګرونو ځاے نیولی دی تندر او زرباد
په دنګه پوزه سپین چارګل، سرې پېزوانې مه یاد

اوس په ګوډ پې د منګیو ځاے بموټونو نیو
زېړې مانې ګړا او کرشمې د جانان مه یادوه

سپرلی به ري، خو په آزادو ملتونو باندې
پر ما خزان دی راته باغ او بوستان مه یادوه

ورخت دیوانې دی د زړه په سترګو خبر شه ورته
شاعرانې مرګ دی خدای پارو چې ځانونه مه یادوه

غزواله! هر شه دې چې دې غزل ځپل ځانته راته
ځان دې اصلاح کړه هسې نور شاعران مه یادوه

کابل: بهارې کالونې ۲۹ / ۱۲ / ۱۳۶۴

# د ژوند پسرلی

د سرو سرو باران کې څوله خندا ته نه جوړېږي
د ګران وطن په غرونو سرې سکروټې راورېږي

دا څنګه پسرلی دی چې په ما باندې ماتم دی
ښار ده انګولا ده ټول وطن باندې مې غم دی
شهیدې مې بې کفنه تورو خاورو ته روان دی
دښمن مې د اسلام له منځه وړلو ته اړم دی

دا څه را باندې راشول لا به څه را باندې کېږي
د ګران وطن په غرونو سرې سکروټې راورېږي

تناده اوربښنا ده په ما اوري تندرونه
د خدای په لوی جهان کې له ما هېر شول بهارونه
غازي مې د الله په نوم خپل سر لاس کې نیولی
په تش لاس پرزوي د دښمن شربلې او ټانکونه

د حق مقابل ته سرکښان کله ټینګېږي
د ګران وطن په غرونو سرې سکروټې راورېږي

سپرلی به په منګو ري چې خپلواک یې خپل وطن دی
نه مرګ وي او نه ژوبله خپل یې باغ خپل یې ګلشن وي
زما په باغ او بڼ کې د سپرلي څه اثر نشته
زما په شان به چېرې د چا ژوند په ځنګدن وي
په سپین مخ باندې اوښکې د یتیم مې چې بهیږي
د ګران وطن په غمونو سرې سترګې ژړیږي
د سرو خزان د لاسه مې تالا باغ او بوستان شول
ښاسته ښکلي ګلونه مې نن تري په بیابان شول
کارغان راغلل باغچو ته ګلبڼونه یې تالا کړل
په چیغو او نارو باندې محروم زمې بلبلان شول
د حق او باطل جنګ دی تکړه دې چې رژیږي
د ګران وطن په غمونو سرې سترګې ژړیږي
بمونو د ناپالم کنډواله مې کلي کور کړې . . .
د ګل په شان وطن مې سره وحشیانو راته اور کړې
باغچې مې لوټیه شوې باندې اوریږي سره اورونه
بې وحشتو بې دینو پر مونږ پورې دا پېغور کړې
څو سر د افغانیت مې هیڅ زورګیر ته به نه ټیټیږي
د ګران وطن په غمونو سرې سترګې ژړیږي

یا مرګ دی او یا ژوند دی د ازمونې فیصله ده
سپرلی به مو سپرلی کړو دا مو ژمنه او وعده ده

دا غرونه دا رغونه به د روی په وینو سره کړو
خپل باغ بوستان به خپل کړو پټیلي مو یخه ده

سپین ږیري او ځوانان له خپل خوابه ژوند نه تیریږي
د ګران وطن په غرونو سرې سکروټې راوریږي

که زه نن د شلم قرن پرښت سره جنګیږم
که زه د دین له پاره له خپل سر مال نه تیریږم
که زه نن د خوابه وطن په غم کې لیونی سیم
که زه د قام په مینه سرا بلم ، خو ژوندی کیږم

ژوندي وینې ملتونه له تاریخ کله پټیږي
د ګران وطن په غرونو سرې سکروټې راوریږي

زما ننګیال ملته ! توره شپه به تیریدی ده
دا ستا د قسمت ستوری نن سبا به راختو ده
سپرلی ژوند به راشي خو دا شرط ده عزیزانو
پیروالی رانه غواړي بس خبره د پښتو ده

غروال قلم به لاس کې د وطن په غم تړیږي
د ګران وطن په غرونو سرې سکروټې راوریږي

ساپی / ۱۳۶۴/۲/۲۹

# په سنګر کې مجاهد لالي ته!

چې ماښام دیګر شي د ګودر په لور روانه شمه
په نیمه لار کې ودرېږمه پښېمانه شمه
د زړه دربار د فکر تال مې کومې خواته بوځي
وایم که نه وایم په دې دوو کې حیرانه شمه

چې د ماښام د تنارو په شړنګ خولې خولې شم
د تاله غمه په زړګي باندې اړې اړې شم
هغه ساعت به چېرې بیا په سترګو وینمه
چې دې په غاړه کې امیل په شان داني داني شم

چې د ماسخوتن د غروب له پاره بسترې ته ورشم
لکه بندي د ظالمانو جیلخانې ته ورشم
په کټ کې اوږده اوږدم سترګې نه پټېږي
کینمه، پاڅېږم تر دې چې نیمې شپې ته ورشم

نه مې هېرېږي د واده دریمه شپه لالیه
هغه د راز و نیاز لحظې یو شېبه لالیه
تا به خندل، ما به مسکل د ستارمانې په هیله
چې به دې غېږ کې اوږدمه ګلدسته لالیه

خو

تا په سنګر کې د رالټ داشکې خوا ونیوه
ما په کاله کې سینه غوړه تل په دعا ونیوه
ته د خپل دین او د وطن په ننګ جنګیږې هلته
د حق په لار کې حق لار دې په رښتیا ونیوه

زه به په کور کې ستا له پاره کامیابي غواړمه
په دښمنانو دې مدام بالادستي غواړمه
ګرانه لالیه! وړاندې تګ د کامیابۍ نښه ده
ستا په غورځنګ د دښمنانو بربادي غواړمه

خو په سنګر کې محبوبه چې درته هیره نشي
چیرې قوه د دښمن دې خواته راتیره نشي
چې داشکه دې کړې ضربه د تکبیر غږ پورته کړه
ګوره په زړه کې دې پیدا له دښمن ویره نشي

د دښمن وینې بهوه د ستړ مړاو له پاره
چې مو هدف تر سوي [illegible] انجام له پاره
غزال دې غواړي کامیابي په دښمنانو باندې
ستا قرباني ده حقیقت کې د خپل قام له پاره

٢١ / ٢ / ١٣٦٥ کیایان، بهاري کالوني
[illegible]

# څرخي زندان ته د يو مهاجر پيغام

تودې اوبه نه د زړه جوش راكمولای نشي
كه مې هوا مې، تور ده مينه سړولای نشي
تور ده خيمه كې د تورې دښتې سينه كې اوس
تا ورته بارونه د وطن ياد هېرولای نشي

—.

زه هم د كور كهول مېر من وم د وطن په غېږ كې
ما هم اوربل كې ګل ترمبل د خپل چمن په غېږ كې
زه هم د خپل لالي له پاره د ژوندون قصر وم
ما هم د ګلو سيلا وه د خپل ګلشن په غېږ كې

خو:

—.

د غويي په ښوامې په ژوند كې بربادلون راوستو
په هر كاله يې د غموني يو شخون راوستو
وحشي خلقيانو د وحشت اور ورته ولګول
هستي يې لوټ كړې د سرونو يې للون راوستو

د دې وحشت په نتيجه کې رانه کور پاتې شو

وجود مې غم او مصيبت کې يکه سکور پاتې شو

غوبښې اوبه شوې د غم وخوتونه سينه لاهو کړل

بل څرخي کې د زړه سر د ستر ګو تور پاتې شو

—.

ماشوم يمې مې راته ژاړي زړه پلار غواړي

يو ورځ نده هر ساعت يې په بار بار غواړي

اوښکې مې سترګو کې د نده شوي نو بوي يې نشم

د چاله غم ګرېوانه ته راشه لار غواړي

—.

بابه ! ملګري شه ورځه له هغه باده سره

نه هونو کې مينه چې پالې مې له هيواده سره

د پکتيا غرونو نه ورته پر شه د څرخې زندان ته

زما د زړه رازونه يو سه له فرياده سره

—.

ملت زندان کې د وطن په مينا نو باسله ده

د دين د ښمنې په سرمستو پېتنګانو بانده ده

تر دوخیمو کې د استوګنو سلامونه وایه

د پاکې مینې ببر سرو لیونیانو باندې

—

هلته زما لالي ته هم دا پیغام ورسوه

د مهاجري محبوبې یو سلام ورسوه

د کامیابۍ په لوري یون دی وار خطا مې نشي

ورته پېشکش د سپېرو شونډو انعام ورسوه

—

۲/۳/۱۳۶۵ کبابیان، بیهاري کالونی

[illegible]

مسافر پروت یم په بل وطن کې

بلبلان خوند کړي په خپل چمن کې

ژوند مې په یادو د خپل وطن تېرې

وایم وطن به په ځنکدن کې

۲۳/۱۱/۶۳ افغان کالونی

# سپینې ورې او سرې تورې

په وطن کې مې نن جوړې زلزلې دي
سپینې ورې د شهید په وینو سرې دي

•••

څو به د سینو خدایه دښمنو وطن اور کړي
څو به پښتو وطن بلوڅو پیغور کړي
څو د ربو بلو غلامانو سودا وکړي
په هر کور به چې د ظلم تنغر خور کړي

له ښارونو جوړې شوې هدیرې دي
سپینې ورې د شهید په وینو سرې دي

هېوادوال مې پېژني ښه خوارو واره شول
څوک څوک خوراك د سرو څتهك او د لاره شول
څوک د سرو وحشت جيلونو کې او سېږي
څوک کباب په سرو لمبو د تناره شول

څه تاريخ دی څه يادگار څه خاطرې دي مې
سپينې واورې د شهيد په وينو سرې دي

...

نن د گران وطن هر کور کې جوړ ماتم دی
د خوښي پر ځای حاکم پر مونږ غم دی
د يخني او د گرمي پروا يې نشته
ځوان غازي مې د دښمن پانگه اړم دی

پرې د پاسه د گوليو شېگې دي مې
سپينې واورې د شهيد په وينو سرې دي

...

پاك قرآن په پاك جومات کې لولپه شو
زوړ تاريخ مې په هرات کې لولپه شو
د پکتيا ځنگلي يو مخې ايرې شوې
زاړه او ځوان هزاره جات کې لولپه شو

د غم لړې په وطن مو راخورې دي
سپینې واورې د شهید په وینو سرې دي

...

واوره اوري، خو ګولۍ هم ورسره دي
سور موسم دی، خو ګومه هم ورسره دي
یا غونډونه په ځای نیسان بموږ اورېږي
که باران شته، خو بزګه هم ورسره دي
د غازي د وینو جوړې فوارې دي
سپینې واورې د شهید په وینو سرې دي

...

د کور سپو قطبي خرسان راوستل کور ته
اوس کړېږي، نوښتي تېښک دي د حق زور ته
چې د روس لښکرې وینوه په لاس کې
یو په بل پسې ورځي د دوزخ اور ته
په ټانګونو یې نن ملې سرې لمبې دي
سپینې واورې د شهید په وینو سرې دي

...

میړني ځوانان پرې خېژي پروا نکړي
لمبې تندې پرې تېرېږي پروا نکړي
له دښمن نه یې د تېښتې لار ده ورکه
سره اورونه پرې ورېږي پروا نکړي

په هر لوري د تکبیر نارې سورې دي
سپینې واورې د شهید په وینو سرې دي

...

د بري په لوري یون دی وطنوالو
بس خو شرط یې پیوستون دی وطنوالو
کامیابي ده په یووالي کې نغښتې
نو پکار ملي ترون دی وطنوالو

د غروال د غمجن زړه دا اندېښنې دي
سپینې واورې د شهید په وینو سرې دي

۱۳۶۵/۹/۱۷ کابیان

د «ګرځي راګرځي پکې» د مشاعرې په لړ کې

# پسرني ورځې

«خيال مې صحرا ده بربوکه ګرځي راګرځي پکې»
بس يوه مينه ليونۍ ګرځي راګرځي پکې

د زړه په غولي مې د غم ږسالې بيا پنډې دي
توره تياره ده د يوه ګي ګرځي راګرځي پکې

د خيال مارغه مې خدائ خبر چې کومې خواته بيايي
د فيل چپاو دی توتکۍ ګرځي راګرځي پکې

خزان وهلی باغ د بيا غوړېدو طمع لري
خو لا تر اوسه سرې سيلۍ ګرځي راګرځي پکې

دا چې ژوندی يمه ژوندی اميد په زړه کې لرم
پته رڼا د خپلواکۍ ګرځي راګرځي پکې

وطن مې لوټې لوټې پروت دی د ظالم د لاسه
د سرو ګولیو سره بلمه ګرځي ژاګرځي بېکې

د خدای (ج) د مینې پتنګان په سرو لمبو ګډیږي
د حق میدان دی سرې سپرغۍ ګرځي ژاګرځي پکې

لوی انهایبت دی د لوی خدای د خوشالۍ له پاره
څکه پتمنې کلکرۍ ګرځي ژاګرځي بېکې

چې هیڅ زور کیږته په هیڅ وخت کې تمیته شوي نه
دا ابدالي غیرت پګړۍ ګرځي ژاګرځي بېکې

داو د سرو وهل کیږي د ناموس له پاره
یوه آرزو د وږوږ ګلوی ګرځي ژاګرځي پکې

بړی بڼدې دی د امید غوټۍ هر کل شي آخر
خوږې وږمې پسرلنۍ ګرځي ژاګرځي بېکې

نن که د سرو د لاسه سرې وینې بهیږي زما
تو پاڼې شوې یې بهیږي ګرځي ژاګرځي بېکې

سبا به سره په سرو لمبو کې د خپل ځان سوځیږي
دا خاطره مې پرونۍ ګرځي ژاګرځي بېکې

سنګر د حق مې د شهید په وینو سور ځلیږي
یاد د ذبیح (ع) د قربانۍ کړي راګرځي بیا کې
غزوال د دین او د وطن په غم غمجن دي ځکه
پتنګ سوي او پر شعله نڅېږه ګرځي راګرځي پکې

نګابین ۱۳۶۶/۱/۶

خدایه آزاد کړه زما وطن مې
آرام به روح مې آرام به تن شي
هغه به خندګه د خوند ساعت وي
چې غزوال پورته مغ په رفتن شي

۶۲/۱۱/۲۴ افغان کاونز د پېښې دوه نیم بجې.

د «مه پوښته» د مشاعرې په لړ کې

# د تکبیر چیغې

«ورک حواس د ورک کو دستم له زوره مه پوښته»

لوټې لوټې پروت دی ما د پلار له کوره مه پوښته
سره شفق ته گوره ترجمان مې د سرو ویښو دی

او ښکو ته یې گوره د زړه حال له موره مه پوښته
دردونه یې په مورچل کې د نیپام د بم خوراک شول

خور د حق سنگر کې لرځیل ورکه وروره مه پوښته
خوک چې گران وطن یې د ظالم په اور لوخړه شو

مه پوښته د اخلک د دوزخ له اوره مه پوښته
حال مې کمزوری دی، خو ایمان مې پیاوړی دی

سره سکروټه گوره د ایرو او سکروره مه پوښته
نن چې نړیوال گوري په غابښ هک حیران پاتې دي

عزم ته یې گوره له اوبدو او پسوره مه پوښته

پاتې به یادګار مې دا یرو بې مثله ځلې دي

مینه د اسلام او د وطن هر ګوره مه پوښته
ما د سره بیره قطبي ځرس په ګونډو کړي دي

څکوره قرباني مې د نړه حال مې نوي مه پوښته
دا د حق اواز دی چې نړه کې انګازې کوي

چیغې د تکبیر مې د غازي له شوره مه پوښته
خدای (ج) سره چې کړې مې وعده ده پوره مې ولاړیمه

سر تري غو څوم نور مې له سره او توره مه پوښته
رسي به منزل ته اخر چې کوم اولس کې وي
مه پوښته غړواله ! له نفاق، پیغوره مه پوښته

۲۹ / ۲ / ۱۳۶۶ سیا بیان

ژوندرانه سوراور شو سرې سکروټې شو
غم د ګران وطن مې کوټې کوټې شو
سرې وینې بهیږي په تویونو کې
څکه طبیعت مې ورته ختې شو

۵ / ۱۲ / ۱۳۶۲ افغان کالونی

زما ترە ذوی شهادت په یاد

# د قهرمان شهید اکبرخان په یاد

په ننګ غیرت دي کړي فخر افغانانو شهیده
له سره تېر شوي اکبرخان شهیده

د پکتیا غرو کې زلزلې جوړې دي
ستا له سرو وینو نه ویالې جوړې دي
د دین دښمن نه لاره ورکه شوله
په غرو رغو کې یې ناري جوړې دي
د تکبیر غږ دي لړزوي ځمکه آسمان شهیده
له سره تېر شوي اکبرخان شهیده

تا پخپل دین او وطن ننګ کړی دی
وطن دي کفر باندې تنګ کړی دی

د دوزخ اور ته دې لیبلي دې د ببر
په کوم سنگر چې تاغورځنګ کړی دی
قوي دې عزم اراده وه ټینګ ایمان شهید ه
له سره تېر شوې اکبرخان شهید ه

ته کړان وطن ته د خلاصون زیری شوې
د توري شې د سبا ون زیری شوې
لوړ اوراه دې رباندې فخر کوییے
د مسلمانو د ژوندون زیری شوبے
هېر به نه شي څوچې پایم په جهان شهیده
له سره تېر شوې اکبرخان شهیده

څوك چې شهید شي د اسلام په نامه
یا چې سرور کړي د خپل قام په نامه
د وینو څاڅکي یې رڼا راولي
چې شي قربان د ستر مرام په نامه
ور ځرجو شي د تاریخ ستر قهرمان شهیده
له سره تېر شوې اکبرخان شهیده

ستا له غیرته ډک زړګي نه قربان
ستا له یتیم واره بچي نه قربان
چې د دښمن په سنګرونو خېژي
په دین مین داسې زمري نه قربان
ستا پاکې وینې به دښمن ته شي توپان شهیده

له سره تېر شوی اکبرخان شهیده

د زړه ټوټې نورالبصر شهیده
د پښتنې مور د زړه سر شهیده
د پاک ایمان د عقیدې له پاره
غلبیل غلبیل دې شو ځیګر شهیده
ښه مبارک دې د جنت حورې غلمان شهیده

له سره تېر شوی اکبرخان شهیده

ستا د سنګر هر یو غازي ته سلام
ځوان مجاهد تنکي حملې ته سلام
چې یې سینه دښمن ته ډال نیولې
د وطن د غم میرني ته سلام
غزوال دې غم کې همکرځوي خیرې ګریوان شهیده

له سره تېر شوی اکبرخان شهیده

۱۳۶۵/۱/۲۴

# د وطن ترانه

توره مو په لاس کې تول له خپل وطن قربان یو
موږ مسلمانان یو موږ مسلمانان یو

---

دا زموږ ګلشن وطن
دا زموږ عدن وطن
دا زموږ ختن وطن
دا زموږ ختن وطن
سر به ترینه جار کړو که واړه یو که ځوانان یو
موږ مسلمانان یو موږ مسلمانان یو

---

نه پرېږدو غدار دلته
نه پرېږدو بدکار دلته
کم ستړي یو بیدار دلته
کم ستړي یو بیدار دلته

ستوره چلوو، تل، سربښند ونکي افغانان یو

موږ مسلمانان یو   موږ مسلمانان یو

—

موږ ه آزادي غواړو

موږ ه ښېګړې غواړو

وړکړ ځاغځاني غواړو

وړکړ ځانځاني غواړو

دا موږ دی مرام د خپل پېښوا په لار روان یو (ص)

موږ مسلمانان یو   موږ مسلمانان یو

—

ښکلی دی مرام ز موږ

ښکلی دی انجام ز موږ

دعه دی پیغام ز موږ

دغه دی پیغام زموږ

سراو مال نه تیر یو موږ د دي خاورې پیبان یو

موږ مسلمانان یو   موږ مسلمانان یو

—

نن که در په دریو مون

نن کرمات وزریو مون

تول زخمي څیګړیو مون

تول زخمي څیکړیو مون

دا موږ دی باور چې بریالي په هر میدان یو

موږ مسلمانان یو موږ مسلمانان یو

---

موږ د خدای قانون غواړو

خپل دښمن زبون غواړو

مینه پیوستون غواړو

مینه پیوستون غواړو

لوی واره غروالله ! د تاریخ قهرمانان یو

موږ مسلمانان یو موږ مسلمانان یو

۱۳٦٤ / ۲ / ۱٦

افغان کالونی

# د وطن ترانه

ژوسان به سرینه باسو دا وطن زموږ دی
د سرو ګلو نو باغ ښکلی ګلشن زموږ دی

---

داغرونه، دا رغونه چې زموږ په وینو سره دي
شونډې یې سرو لمبو کې ټول پراته په تنا دي
ګلګلون په خپلو وینو سور کفن زموږ دی
د سرو ګلو نو باغ ښکلی ګلشن زموږ دی

---

ناري دي تکبیرونه دي لړزیږي سنګرونه
ځوانانو دي وروري قربانۍ ته دي سرونه
په وینو به یې ساتو دا مسکن زموږ دی
د سرو ګلو نو باغ ښکلی ګلشن زموږ دی

---

موږ نه پرېږدو وطن کې که خلقیان که پرچمیان دي

وطن یې دی خرڅ کړي دوی د بل چا غلامان دي
ددې وطن استوګن مرد او زن زموږ ده دے
د سرو ګلو ښو باغ ښکلی ګلشن زموږ دی

—

چې څوک وي مسلمان وي په وطن ورکوي سر
خپل ځان قربانوي دښمن نه پرېږي دی سنګر
په دین او په وطن باندې مین زموږ دی
د سرو ګلو ښو باغ ښکلی ګلشن زموږ دی

—

سر ورنه نذرانه شه د وطن په پاکه مینه
خپلواک شه وندون له پاره صدقه شه د تن وینه
غرواله! دا وینا د غره ګفتن زموږ ده دی
د سرو ګلو ښو باغ ښکلی ګلشن زموږ دی

—

۳۰ / ۸ / ۱۳۶۶ بهار کالوني

# دحق میدان

چې له مرګ ځني ویریږي پښتون نه دی
په دښمن چې دوکه کیږي پښتون نه دی
پښتون نه دی چې د بل لاس لاندې ژوند کړي
چې له سر نه ، نه تیریږي پښتون نه دی
پښتون تل د خدای (٤٠) په مینه باندې مست وي
چې په بل لور روانیږي پښتون نه دی
په پښتون زړه کې به مینه د اسلام وي
له خپل دین نه چې ستنیږي پښتون نه دی
چې پښتون وي د وطن په ننګ مین وي
په وطن چې نه ځوریږي پښتون نه دی
له پښتون سره به غم د خپل اولس وي
له خپل قام نه چې بیلیږي پښتون نه دی
پښتون ځوان د حق میدان کې ترولاړ وي
چې پتنه قربانیږي پښتون نه دی
دا شرط نه ده چې خبرې په پښتو کړي
چې د بل په خوله غږیږي پښتون نه دی

له غزال سره به تل د پښتون غم وي

ن
که پښتون به تري هېري پښتون نه يې

١٣٦٢ / ٧ / ٤

برتاکال

عسکر هغه دي چې سر قربان کړي

د حق په لار کې ژاتول ځوانان کړيے

مينه د حق يې دومره عالي وي

چې په دې مينه محو ځېل ځان کړي

٥ / ١٢ / ١٣٦٢ / افغان کالوني

---

په زړه مې بلې د غم لمبې دي

د پاسه پنډې پرې اندېښنې دي

د چا له لاسه داسې کړېږم

د چا له لوږې داکشالې دي

٥ / ١٢ / ١٣٦٢ افغان کالوني

# د آزادۍ په مینه

د دین په مینه د وطن د آزادۍ په مینه
د اسلامي افغانستان د خپلواکۍ په مینه
سر هغه سر دی چې یې چاته ټیټیدل نه وي زده
بس تل ژوندی وي د خپل خدای (ج) د بندګۍ په مینه
بنده هغه دی چې د ژوند له پاره ژوند تیروي
د خدای (ج) بنده به ژوند کوي د سرلوړۍ په مینه
د خپل وجود په پاکو وینو مې سنګر چې رنګ کړ
د دې هیواد د هر یو فرد د سوکالۍ په مینه
چې ابدي ژوندون ګټي د قربانۍ په بدل
سر دې قربان شي د دې لوړې قربانۍ په مینه
ګوندې دا سر مې شي قبول د لوی الله په درکې
پروت یم سنګر کې ځکه زه د سربازۍ په مینه
غروالله! سر چې ورکوې د ځېر یو وا مرکوه
سر ورکوی شي د رانلونکې ژوندګۍ په مینه

۱۳۶۶/۱۰/۲۲ کبابیان

# د توري خپرې

پکې سوزېږي مې تن خوږي ماشومان عالمه
د ظلم اور دی لګېدلی په افغان عالمه

—o—

زما د ژوند د دنیا ګڼه خونه ویجاړه شوله
زما د مینې لوېشته لوېشته ځمکه شاړه شوله
زما په غرونو ځنګلونو باندې اورپورې شو
په دې وحشت مې لرغونې خونه لتاړه شوله
مړې زړوریږي د بچو سور باران عالمه
د ظلم اور دی لګېدلی په افغان عالمه

—o—

زما وطن نه نن د اور یوه بټۍ جوړه ده
په غره او سمه د ګولیو سره بڼله جوړه ده
وطن تباه شو د ظالم د سره وحشت د لاسه
بس د سیسه ګرانو وطن د تباهۍ جوړه ده
په دې بټۍ کې نینې کېږي انسانان عالمه
د ظلم اور دی لګېدلی په افغان عالمه

زما وطن کې نن د وینو سیلابونه جوړ دي
له پاکو وینو د شهیدې توپانونه جوړ دي
د وطن کاني بوټي سره دي د بچو په وینو
هر سینه کې د غمو نو سره داغونه جوړ دي
راته جوړ شوي خپل وطن نه دی زندان عالمه
د ظلم اور دی لګیدلی په افغان عالمه

-٥-

زاړه حرّاتان مې دي د حق په سنګروکې پراته
لکه زمریان دي د وطن په دنګو غرو کې پراته
چاله وطن نه کډې وکړې نرې وطن پاتې شو
لا لهانده ګرځي په پردیو وطنو کې پراته
چې پرې راغلی دی د توږې شپې نوران عالمه
د ظلم اور دی لګیدلی په افغان عالمه

-٥-

د دین په مینه په سنګر کې پتنګان جنګیږي
د سترهدف له پاره غرونو کې زمریان جنګیږي
له سره تېر دي، خو غلام د چا کیدلی نشي
هر مجاهد مې دی د بدر پهلوان جنګیږي

قوي مو عزم، اراده ده ټینګ ایمان عالمه

دظلم اور دی لګیدلی په افغان عالمه

-٥-

تاریخ شاهد دی زما قام څوك ایل کولی نشي

په دسیسو او نیرنګو یې شکیل کولی نشي

دا مغز قام دی چې دښمن تل تری زبون تللی دی

هار د سکرو تو څوك دخان امیل کولی نشي

په ټول عالم کې یې ورکړی امتحان عالمه

دظلم اور دی لګیدلی په افغان عالمه

-•-

ننکه په سرو بمونو وراشو او ورانیږي پسې

یا دځوانانو لکړی مړ دي چې نڅیږي پسې

ننکه په سرو وینو کې غرږي حسیني سرونه

یا که وطن مې کندرو اله بانډې بدلیږي پسې

څو په روسانو هم تنګ شوی لوی جهان عالمه

دظلم اور دی لګیدلی په افغان عالمه

-٥-

د مجاهد د تکبیر چیغې مې جهان لړزوینه

د حق نارې یې لاندې ځمکه پاس آسمان لړزوي

د خدای د مینې پتنګان په سرو لمبو ګډیږي

د توري خرپ یې هر سنګر او هر میدان لړزوي

په ټول عالم کې یې رسوا کړل سره روسیان عالمه

د ظلم اور دی لګیدلی په افغان عالمه

-٥-

د خدای بنده د بندګانو بندګي نه مني

د بل تر لاس لاندې یې پته ژوندګي نه مني

افغان آزاده دی پیدا شوی تل آزاد به اوسي

سر ورکوي شي، خو د سر خمیدګي نه مني

د آزادۍ په مینه تېر دی له خپل ځان عالمه

د ظلم اور دی لګیدلی په افغان عالمه

-٥-

غواله! سر چې ورکوي له هغه سره قربان

چې په سرو وینو یې ګلګو هغه سنګر نه قربان

وینه د تن چې ورکوي د خپل وطن په مینه

چې په کوکیو یې غلبیل هغه ټټر نه قربان

زه هر د داسې ستر مقام یم په ارمان عالمه
د ظلم او بېدی لګېدلی په افغان عالمه

-٥-

١٨ / ٩ / ١٣٦٦ ګابین

په څه به خوښ شم آرام به څه کړم
چې ګران وطن دی له څخه پاتې
شپه نیمه تیره ده نیمه پاتې
اوښکې په مخ مې چې دي راماتې

---

زموږ د ژوند د سرنوشت او سبا نن فیصله (١)

د نن سبا دا فیصله ده د پرون فیصله
د چا په زور او په نیرنګ دا فیصله کله شي
د زملت، د زقیام او نړا ځون فیصله

(١) د شهرت ګګمال د فیصلو د قطعاتو په لیکه.

# د استاد خلیلي په یاد

پرېوتو یو ستوری د ادب د آسمان پرېوتو
ګل د لاله زار د زړه سوي د بوستان پرېوتو

نه به وي رڼا بیا د ادب په محفلونو کې
څراغ د انجمن د ګل غونچه او پروان پرېوتو

ګل وُ توکیدلی د کابل د غرو لمنو کې
خدایه دغه ګل مې څه په دښت بیابان پرېوتو

نسیب هر کلي تر د باکرام توتیان وتلي دي
لال د بدخشان چې یې تر څنګ د رحمان پرېوتو

تندرو، توپان وُ د روسي وحشي لښکرو ته
غرو د پولادو د ظلم له میدان پرېوتو

او دې وه ولې د دښمن په کوره سکروټه و
ننګ چې وُ غیرت چې وُ نن هغه انسان پرېوتو

وینه کې یې مینه د وطن په غور ځنګونو وه
نن د حق د لارې یو غازي سخندان پریوتو

مینه د اقبال او د خوشال ورپاندې ښکلې شوه
ورځونه یو ما ځکلي قیمتي د افغان پریوتو

او ښکې د مجروح او د غمخور به ولې نه ژاړي
ځنګ کې یې ملګري نو سپاهي د کاروان پریوتو

هسې خو زما په خونه غم دی او کور ویرانه وي
غم د خلیلي ورپاندې بل یو ارمان پریوتو

بن ... دې جهان چې استاد جامې بدلې کړې
پرېمنځې له لاسه د غروال قلمدان پریوتو

۹ / ۳ / ۱۳۶۶ کـ بیان

خدایه وران کړې هغه مکر آسمانونه
چې شي ختم د لاړا دا فریادونه
دیتیم او ښکو وطن په سر اخیستی
په هر کور کې دي د ولو د لو غمونه

۱۸ / ۱۲ / ۶۲ افغان کالونی

# د مجاهد سپوږمۍ د شهادت په یاد

بیا مې پورته شول له خولې نه فریادونه
څه ناتارونه، څه غوغا ده څه ویرونه

د آسمان لمنې سرې شولې په وینو
راورېږي له آسمان نه تندرونه

د سپوږمۍ په شهادت مې کولمې پرې شوې
زړه مې پرهر شول دېځي درانده غمونه

بیا به هغه راکټ څوک په اوږه کېږدي
چې سپوږمۍ به پرې سوځول شوبلې ټانکونه

بیا به هغه داشکه کړي څوک فعاله
چې سپوږمۍ کړل پرې غلبیل د دښمن زړونه

بیا به هغه ګروپ ته څوک قوماندې ورکړي
چې سپوږمۍ پرې ماتول سخت سنګرونه

بیا به هغه ځوانان څوک په یوه خوله کړي
چې سپوږمۍ به ترېنه جوړه کړل کتارونه

بیا به هغه مور چې څوک کاندي راټینګي
چې سپوږمۍ پرې تېرول میاشتې کلونه

بیا به هغه مور د چا لارې ته ګورېږي
څوک به وي چې ترېنه بښکل کاندي لاسونه

بیا به هغه پلار د چا په مینه پالي
څوک به وي چې يې پر ځای کاندي حقونه

بیا به هغه بي بي چا ته ځان سینګار کړي
څوک به وي چې باندې وکاندي نازونه

بیا به هغه وروړ په چا باندې نازېږي
څوک ترې چې ورته وایي رازونه

بیا به هغه خور د چا په نامه ویاړېږي
څوک به وي چې یې قبول کړي سلامونه

بیا به هغه رهبر چا ته وسله ورکړي
څوک به راوړي د سنګر نه پیغامونه

بیا به داسې مور پیدا د چا په کور شي
چې پیدا شي ترې سپوږمۍ په شان مېړونه

بیا به ماسپښین په هکوړ قلمرکي بېمه شي
چې نصیبې شي دا فتحې دا دنیا یونه

په مشکلو کې به داسې ځوان وي چېرې
چې پوره کړي د سپوږمي ملند ارمانونه

په مت سنګر کې کاڼي بوټي ژاړ سپې
خلیه مړ راولې بیا داسې وختونه

په دنیا کې د ژوندیو افتخار دے
په برزخ کې کاندي فخر پرې قبرونه

په وطن کې که څوک نور سپوږمۍ پیدا شي
راژوندي به شي د تېر وخت تاریخونه

ویاړئ ویاړئ د پکتیا لوړو غرونو
په نامرمو ورکوي ځوانان سرونه

ستاو رشود. هدیره د دښمنانو
زغمی نه شي د روسانو قدمونه

هر یو ځوان ستا دی سپوږمۍ اندیښنه مکړه
دښمنانو نه به پوره کړي ګردونه

هر یو ځوان دې پهلوان د زماني دی
په دښمن کړي د پولادو ګوزارونه

## دشهید حسین مرغاشکي په حضور کې

سره به کربلا ته د سرو وینو سیلابونه
ای د قبر خاورو خدای روی مې پروري
خاورې نکړې د سپوږمي سپین مروندونه
تورې ځنې يې ګرد جنې چېرې نه کړې
خراب نه کړې سپینه خوله کې سپین غاښونه
تورې سترګې يې خرابې درنه، نه شي
سالم ساتئ له غیرته دک هدیرونه
د خپل دین په مینه سر ورکړه غزاله !
چې تاریخ کې دې شي پاتې یادګارونه

١٦ / ١٠ / ١٣٦٣

افغان کالوني

پکتیا په وینو بیا تکه سره شوه
اور پکې بل دی یوه لمبه شوه
چېغې سوې دي، دحق ناري دي
په ملحدانو بیا توره شپه شوه

٢ / ١ / ٦٣ داتمار دفتر

"اورپورې شو" د قصيدو په لړ کې

# اورپورې شو

زما د زړه په ارمانونو باندې اورپورې شو
د ګران وطن په غرو رغونو باندې اورپورې شو

سپرلیه ! چیرې په بل د یار کې ځای لټوه
زما د مینې په باغونو باندې اورپورې شو

زما د باغ غوټۍ لا ګل نه وې چې ورژیدې
د خوله مالیان په امیدونو باندې اورپورې شو

د سره بنکیلاک د سره وحشت سیلۍ پرې والوتې
د ګل، بلبل پتو رازونو باندې اورپورې شو

لکه د شوروي کو د تاميي بهار وسو ځاو .
داسې په دېرو بهارونو باندې اورپورې شو

پښتانه اوس هغه پښتانه ندي مېلې نشته یې
اوردې، لوګي هیله ځایونو باندې اورپورې شو

د ګل غونډۍ په میله ښاغلي کېږن خپاره میشته دي
د ارغوان ښایسته ګلونو باندې اور پورې شو

چې هر سپرلي به یې کوچیانو ننداري کولې
نن مې په هغو ایلبندونو باندې اور پورې شو

چې مازدیګر به پرې د خوږو زړونو دمه کېده
په هغو لارو ګودرونو باندې اور پورې شو

چې د زړه تول سیلانیان به ننداروته ورتلل
زما د بامیان په تاریخونو باندې اور پورې شو

چې په نړۍ کې یې مثال د بهار، نه و چېرته
د بدخشان په سرو لالونو باندې اور پورې شو

چې هر ښېرې د آسمان سره رازونه لرل
نن د پکتیا په ځنګلونو باندې اور پورې شو

چې یې د الله اکبر نارې اوچته کړله
نو د کابل په زلمو، جوګو باندې اور پورې شو

چې په شغلو یې د دنیا تیارې روښانه کړلې
په هغه مودمې د ښارونو باندې اور پورې شو

د حق آوازیې چې د هند بتکدې ورانې کړلې
د بت شکن په یادګارونو باندې اور پورې شو

د میرویس خان په درانده کورکې نن ایرې پرتې دي
د احمدشاه په عظمتونو باندې اور پورې شو

د لوګر دښتې او بیدیاوې ولې وسوځیدې
د ننګرهار لرتو داګونو باندې اور پورې شو

زرنج، فراه په سرو لمبو کې وځې شپې تېروي
هم د هرات په منارونو باندې اور پورې شو

تخت رستم د کمونستو تر برغل لاندې دی
د جام جم په مکانونو باندې اور پورې شو

چې شور او زوږ به یې د تېر تاریخ قصې کولې
د هندوکش په ابشارونو باندې اور پورې شو

چې د وطن دښمن به لاره یې ورکه کړله
نن مې په هغو کږلیچونو باندې اور پورې شو

چې په څپو کې به یې هیلو غورځنګونه کول
هغو سیندونو، دریابونو باندې اور پورې شو

څو وطنفروشو د وطن هستي له منځه یوړه
لوړه شمله د غیرتونو باندې اور پورې شو

د حق نارو به یې له خوبه چې ویده پاڅول
د خدای په پاکو جوماتونو باندې اور پورې شو

د روحانيونو مشايخو مېنې وسوځېدې
د شهيدانو په قبرونو باندې اورپورې شو

چې هر ماښام يې د بابا د زيارت لوی لار ښار له
د يتيمانو په آهونو باندې اورپورې شو

مدرسې ورانې شوې تعليم ورسره ختم شولو
چې د وطن په مکتبونو باندې اورپورې شو

کروندې ورانې شوې بزګر د نوې اوږم خوراک شو
په رسېدلو درمندونو باندې اورپورې شو

د مځکو، بېديو، ستې وسرېدې
د بوټو وارو ځنګلونو باندې اورپورې شو

وينې د زړونو مو د اوښکو په ځای بهېدې
هم په شليدلو ګريوانونو باندې اورپورې شو

شاعران ناست دي لاس تر زنې، نو به څه وليکي
چې يې په ماتو قلمونو باندې اورپورې شو

د خدای ج دربارکې مو د عجز دعا نه قبلېږي
د دعا ګويو په لاسونو باندې اورپورې شو

هر ځای کې اور دی سرې لمبې دي دنيا اور اخيستی
اوس نو نه اوري په اورونو باندې اورپورې شو

دا د شهید د پاکو وینو د سرخي نښه ده
که د آسمان په شفقونو باندې اورپورې شو

څوک چې د دین باندې مین وي په دین سر ورکوي
د دین په مینه په سرونو باندې اورپورې شو

سبا مې نیت دی چې د نوي کورونه وسوځوم
خیر دی که نن زما کورونو باندې اورپورې شو

نارو د الله اکبر دښمن نه لار ورکه کړه
همې باطلو سنګرونو باندې اورپورې شو

غازیان ترې تاو دي یخپل کورکې بندیوان پراته دي
چې یې په شوبلو او ټانکونو باندې اورپورې شو

زما وطن د زمرو ځاله ده زمریان زیږوي
ځکه د روس سپکو ریونو باندې اورپورې شو

خلقي، پرچم هم له دې اوځې روغ پاتې نشول
همې په خوږو همځانونو باندې اورپورې شو

چې هر فرمان یې مخالف وله رواج څښتني
ځکه باطلو فرمانونو باندې اورپورې شو

تره کي خپل شاګرد مردار کړ په مړاره لاړ لاړ
همې ناولو پلانونو باندې اورپورې شو

دغه د غمو شپې به تېرې شي خوښي به راشي
نن د مسکو په محلونو باندې اور پورې شو

بریژنف مردار شو اندروپوف ورپسې کډه وکړه
د چرنینکو تشو فکرونو باندې اور پورې شو

اوس ګرباچوف که د ګوربې پشان خېزې وکړي
وخت ترېنه تېر دی په وختونو باندې اور پورې شو

ننګیال ملته! د وحدت رسۍ محکمه نیسه
په ځانځانۍ کې مو په خونو باندې اور پورې شو

د یو وحدت په هیله ساه راکې چلیږي خدایږو
نو د مې هډوکو او رګونو باندې اور پورې شو

چوکه، منصب مې په کار نه دی اتحاد غواړمه
اوس په چوکیو منصبونو باندې اور پورې شو

هر څه له یو مخې سوځېږي لولپه شو وطن
ځکه غروال! ستا شعرونو باندې اور پورې شو

۲۴ / ۱۲ / ۱۳۶۳

پښاور افغان کالوني

# قطعات

دعقرب میاشت وه دره شپیتم کال و
دغم شپې ورځې دغم مهال و
عام قتل جور و په کندهار کې
تالان کړه شوی په دین او مال و

۲۲/۱۰/۱۳۶۲ افغان کالونی

دخدای حکمت وی دخدای قدرت دی
یو خوا رحمت دی بل خوا وحشت دی
څه چې روان دي، څه چې پېښېږي
داېې عزت دی، دا یې ذلت دے

۲۲/۱۰/۱۳۶۲ افغان کالونی

کله راحت وي، کله زحمت وي
کله عزت وي، کله ذلت وي
کله خندا وي، کله ژړا وي
تل او مدام به دخدای قدرت وي

۲۲/۱۰/۱۳۶۲ افغان کالونی

د چا سترګې شوې اوښکې رود روان دی
څوک په مینه باندې مست د خپل جانان دي
چا د دین په مینه خاورې کړل سرونه
څوک باغي له خپل خالق له خپل سبحان دي

۵ / ۲ / ۱۳۶۳ افغان کالونی

غم دې هرې خواته فریادونه دي
ظلم دې وحشت دی کړاوونه دي
ځوان د پښتانه پروت په سنګرکې دی
جرګې یې نارې دي تکبیرونه دی

۲۲ / ۱۱ / ۶۳ افغان کالونی

نارې سورې دي غرو د پکتیا کې
د برې غږ دی په هر خوا کې
دښمن د تېښتې لورې ورک کړی
ځوانان ترې تاو دي په پکتیکا کې

۵ / ۱۲ / ۱۳۶۲ افغان کالوني

شهید قربان شو د دین په مینه
سنګرې سرې دي په پاکه وینه
چې د وطن په مینه جنګیږي
داسې ځوانان دي مولا لرینه

PROPERTY OF ACKU 670